❖❖❖

# د افغانستان کاني سکتور؛ د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره فرصتونه او ننګونې

دکتور محمد جاوید فدائي [*]

## لنډیز

*افغانستان، چې د منځنۍ او سوېلي آسیا ترمنځ پروت دی، د ملیاردونو ډالرو په ارزښت کاني زېرمې لري، چې اوسپنه، مس، لاجورد، زمرد، طلا او نور نادره ځمکني عناصر پکې شامل دي. دا طبیعي سرچینې نه یوازې د افغانستان د اقتصادي ودې اساسي محور جوړولی شي، بلکې د نړیوالو بازارونو او سیمه‌ییزو همکاریو د پراخېدو لپاره هم مهم فرصتونه برابروي. دا مقاله د افغانستان د کاني زېرمو ستر اقتصادي پټ ځواک د کاني سکتور د فرصتونو او ننګونو په رڼا کې راسپړي. څېړنه د تحلیلي مېتود له مخې ترسره شوې، چې پکې د لومړنیو او دویمو سرچینو ارزونه شوې، ترڅو د کان کیندنې سکتور د پایدارې ودې لپاره لازمې تګلارې روښانه او وارزول شي. څېړنه څرګندوي چې امنیتي ننګونې، د زېربناوو کمښت، غیرقانوني استخراج، د افغانستان اسلامي امارت رسمیت او د شفاف قانوني چوکاټ نشتوالی د پانګونې پر وړاندې اساسي خنډونه دي. د دغو ستونزو د حل لپاره، د شانګهای همکارۍ سازمان او د اقتصادي همکارۍ سازمان په څېر د نورو سیمه‌ییزو ادارو رول ته اشاره شوې، ترڅو د ترانسپورتي شبکو پراختیا، د پانګوالو د باور لوړونه او د سیمه‌ییزو همکاریو پیاوړتیا ته زمینه برابره شي. سربېره پر دې، څېړنه ټینګار کوي چې د پرمختللو ټکنالوژیو کارول، د پانګوالو لپاره د قانوني خوندیتوب برابرول او د نړیوالو معیارونو مراعاتول، کولی شي نه یوازې د افغانستان اقتصادي وده چټکه کړي، بلکې د ټولې سیمې د ثبات او اقتصادي نښلون لپاره مهم ګام وګرځي. په ټولیز ډول څېړنه کاږي، چې د افغانستان کاني سکتور د دغه هېواد دوامدارې اقتصادي ودې او سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په برخه کې اساسي رول لوبولی شي.*

***کلیدي کلمې:*** *افغانستان، سیمه‌ییزه همکاري، کاني زېرمې، اقتصادي پرمختګ، ننګونې، فرصتونه.*

---

[*] لیکوال، ژباړن او څېړونکی په فقه او قانون کې د لیسانس، په نړیوالو حقوقو کې د ماسترۍ او په نړیوالو اړیکو کې د دکتورا تر کچې لوړې زده‌کړې لري. نوموړي تر لسو زیاتې څېړنیزې مقالې په انګلیسي او ترکي ژبو لیکلې چې یو شمېر یې په نړیوالو ژورنالونو کې خپرې شوې او یو شمېر نورې د نشر تر پروسې لاندې دي. همدارنګه، د افغانستان او سیمې پر جیوپولیټکي وضعیت په چاپي ورځپاڼو او برېښنائي ویب‌پاڼو کې وخت پر وخت لیکنې کوي. د دې ترڅنګ یې له عربي ژبې پښتو ته د ډیپلوماټیک لارښود په نوم شاوخوا ۸۰۰ پاڼې کتاب هم ژباړلی، چې نژدې وخت کې به چاپ شي.

**سریزه**

د افغانستان د کاني شتمنیو بې‌ساري پټ ځواک او اقتصادي اهمیت، دغه هېواد ته د نړیوالو او سیمه‌ییزو جغرافیایي شرایطو له مخې، ځانګړې ارزښت ورکوي. افغانستان، چې د نړۍ په یوه ستراتیژیک موقعیت کې پروت دی، د پراخو طبیعي زېرمو لرونکی دی. دا زېرمې، چې اوسپنه، مس، لاجورد، زمرد، طلا او نادره ځمکني عناصر پکې شامل دي، د ملیاردونو ډالرو ارزښت لري (Hunter & Ginn, 2025). د دغو طبیعي سرچینو پراخ شتون نه یوازې د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره یوه حیاتي سرچینه ده، بلکې د سیمې لپاره یې د اوږدمهاله اقتصادي همکاریو فرصتونه هم چمتو کړي دي. د نادره ځمکنیو عناصرو شتون، چې د ټیکنالوژۍ، مخابراتو، انرژۍ او پوځي وسایلو په صنعت کې مهم رول لري، افغانستان د چین، هند، اروپایي هېوادونو او منځنۍ آسیا لپاره د پام وړ شریک ګرځولی دی. دا حقیقت، چې افغانستان کولی شي د نړیوال بازار لپاره د حیاتي توکو عرضه کوونکی وي، د دغه هېواد اقتصادي پیاوړتیا ته د یوه ستر فرصت په سترګه کتل کېږي (TS, 2021).

د دغه څېړنې اهمیت چې د افغانستان پر کاني سکتور متمرکز دی، له یوې خوا ستر بالقوه اقتصادي ارزښت لري او له بلې خوا د زیربنایي محدودیتونو، امنیتي ننګونو، د پانګوالو د بې‌باورۍ، د غیرقانوني استخراج، د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت نشتون او د قانوني چوکاټ د کمزورۍ له امله له جدي ستونزو سره مخ دی (Amin, 2018). که دا خنډونه له منځه ولاړ شي، افغانستان کولی شي د خپلو طبیعي شتمنیو له لارې د پایدارې اقتصادي ودې اساسي بنسټ کېږدي. دغه څېړنیزه مقاله د افغانستان د کان کیندنې سکتور پر وړاندې شته خنډونه او فرصتونه څېړي، د سیمه‌ییزو همکاریو اړتیا تحلیلوي، د حقوقي او اداري اصلاحاتو اړخونه ارزوي. د دې ترڅنګ، د افغانستان د کاني شتمنیو استخراج نه یوازې د ملي عوایدو د زیاتوالي لپاره ارزښت لري، بلکې کولی شي د ټولنې د بېلابېلو قشرونو د کاري فرصتونو د زیاتوالي او د فقر د کمښت لپاره هم اساسي ونډه ولري

(MOMPA, 2019). دا څېړنه د تحلیلي میتود له مخې ترسره شوې، چې پکې د لومړنیو او دویمو سرچینو معلومات ارزول شوي دي. د څېړنې اصلي موخه د سیمه‌ییزو همکاریو پیاوړتیا، د پانګونې پر وړاندې د خنډونو له منځه وړلو، د قانوني او اداري اصلاحاتو، او د پانګوالو د باور د لوړونې پر اړتیاوو ولاړه ده (Nero & Rahmani, 2022). د څېړنې لومړي پړاو کې د افغانستان د کاني سکتور د موجوده وضعیت تحلیل ته ځانګړې شوې، چې پکې د کاني زېرمو د استخراج پر تخنیکي او اقتصادي اړخونو تمرکز شوی. ورپسې، د نړیوالو تجربو په رڼا کې د سیمه‌ییزو همکاریو د پیاوړتیا لارې چارې تحلیل شوې او د پانګوالو د هڅونې لپاره وړاندیزونه وړاندې شوي دي. همدارنګه، د سیمه‌ییزو سازمانونو، لکه د شانګهای همکارۍ سازمان او د اقتصادي همکارۍ سازمان رول ته هم اشاره شوې، ترڅو وښیي چې دا اداري څرنګه کولی شي د افغانستان د کاني سرچینو اغېزناکه کارونه اسانه کړي (Lalrinfel & Tripathi, 2018).

مقاله د افغانستان د کاني شتمنیو پر اهمیت، د دغه سکتور د ستونزو، فرصتونو او د سیمه‌ییزو همکاریو پر رول بحث کوي. په پیل کې د افغانستان د کاني زېرمو ارزښت او اقتصادي اهمیت معرفي کوي. په دې برخه کې د کاني سکتور تخنیکي او اقتصادي وضعیت تحلیل شوی او د کان کیندنې صنعت ته د حکومت او خصوصي سکتور د همکارۍ اړتیا تشریح شوې ده. د دغه سکتور د پرمختګ پر وړاندې شته خنډونه، لکه امنیتي وضعیت، د زېربناوو کمښت، غیرقانوني استخراج، د افغانستان اسلامي امارت د نړیوال رسمیت نشتون او د قانوني چوکاټ کمزورتیا تحلیل شوې. د دې ترڅنګ، غیرقانوني کان کیندنې، او د نړیوالې ټولنې له‌خوا د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت نه پېژندنې اغېزې توضیح شوې دي، چې څنګه دا عوامل د پانګوالو پر باور، د اقتصادي فعالیتونو پر شفافیت او د سیمه‌ییزو همکاریو پر پراختیا منفي اغېزې لري. ورپسې د سیمه‌ییزو همکاریو له لارې د پانګونې د فرصتونو تحلیل شوی او د چین، هند، ایران، پاکستان او د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د اقتصادي همکاریو پیاوړتیا ته اشاره شوې، چې

څرنګه دا فکتور د پانګوالو د باور پر فضا، د نړیوالو شرکتونو پر پانګونې او د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ پر پراختیا اغېز کوي.

په پای کې د شانګهای همکارۍ سازمان، د اقتصادي همکارۍ سازمان او د نړیوالو مالي بنسټونو رول ته اشاره شوې، چې دا سازمانونه څرنګه کولی شي د افغانستان د کانونو د استخراج، د ټرانسپورټي شبکو د پراختیا او د سیمه‌ییزې همکارۍ د پیاوړتیا لپاره مرسته وکړي. لنډه دا چې د څېړنې ټولې موندنې په دې ټینګار کوي چې د افغانستان د کاني سکتور د ودې لپاره عملي سپارښتنې وړاندې شي. دا سپارښتنې د قانوني اصلاحاتو، د پانګوالو د حقوقي خوندیتوب، د شفافیت د لوړونې او د سیمه‌ییزو همکاریو د پراخېدو اړخونه څېړي.

**۱. د افغانستان کاني شتمني**

افغانستان د طبیعي زېرمو له پلوه د نړۍ له بډایه هېوادونو څخه ګڼل کېږي چې د طبیعي ګاز، تېل، اوسپنې، مس، لاجورد، زمرد، یاقوت او ګڼ شمېر نادره ځمکنیو عناصرو پراخې زېرمې لري. د دغو کاني زېرمو ارزښت سلګونه ملیارده ډالره اټکل کېږي، لکه اوسپنه ۴۲۰$ ملیارده، مس ۲۷۴$ ملیارده او نیوبیوم[۱] ۸۱$ ملیارده (Yousaf, 2016). سربېره پردې، نادره ځمکني عناصر چې د ۷,۴ ملیارد ډالرو په ارزښت اټکل شوي د ځانګړي اهمیت وړ دي، چې د برېښنایي وسایلو په تولید کې مهم رول لوبوي، لکه سوپر کنډکټر الیاژونه، مقناطیسي توکي، لېزرونه، د تلویزیون سکرینونه، د موبایل او کمپیوټرونو بېټرۍ او داسې نور (Khetran, 2019).

د دې ترڅنګ، ځینې عناصر د سرو زرو، سپینو زرو، مسو، اوسپنې او نورو قیمتي کانو سره تړاو لري، چې د افغانستان کاني سکتور یې په پراخه کچه غني کړی دی (Khetran, 2019). افغانستان د کاني سرچینو د پراختیا له پلوه لویه وړتیا لري او کولی شي په نړیواله

[۱] نیوبیوم یو نادر او نرم فلزي عنصر دی چې په ځانګړي ډول د فولادو د پیاوړتیا، د تودوخې د مقاومت لوړونه او په پرمختللو ټیکنالوژیو کې د سوپر کنډکټر موادو لپاره کارول کېږي.

کچه یو مهم کان صادروونکی هېواد وګرځي (Renaud, 2013)، خو د پرمختللو زېربناوو د نشتوالي له امله د دغه هېواد د کاني شتمنیو لویه برخه، په ځانګړې توګه نفت او طبیعي ګاز لا هم نه دي را سپړل شوي.

د افغانستان مرمر، چونه، ډبرو سکاره، مالګه او طبیعي ګاز لا تراوسه د تصفیې او کارونې لپاره نه دي چمتو شوي. د کاني سکتور پرمختګ نه یوازې د افغانستان اقتصادي پرمختګ لپاره مهم دی، بلکې د سیمې د امنیت او ثبات لپاره هم کلیدي رول لوبولی شي (Renaud, 2013)، خو د دې لپاره یوه ستره پرمختیایي بودیجه اړینه ده، ترڅو د هېواد اقتصاد ته وده ورکړي او د کاني سکتور پراختیا یقیني کړي. په دې توګه، د افغانستان کاني شتمنۍ د اقتصادي پرمختګ لپاره یو زرین فرصت دی، خو د زېربناوو، تخنیکي وړتیاوو او د پیاوړو قانوني چوکاټونو په برخه کې له ژورو اصلاحاتو پرته به دغه فرصتونه یوازې افسانه پاتې شي. د دغه سکتور سمون او وده به نه یوازې د هېواد اقتصاد ته ثبات راولي، بلکې د سیمې لپاره به د سولې او امنیت یو نوی باب پرانیزي.

## ۱,۱ د افغانستان د کاني سکتور سیمه‌ییز جیوپولیټیکي اهمیت

د افغانستان کاني سکتور د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره ستر جیوپولیټیکي فرصتونه وړاندې کوي، چې هېواد ته د منځنۍ او سوېلي آسیا په کچه د منابعو د سوداګرۍ او پراختیا لپاره ستراتیژیک ځای ورکوي. افغانستان د آسیا د لارې په مرکز کې پروت دی، چې د چین، پاکستان، ایران او منځنۍ آسیا هېوادونو سره ګډې پولې لري. دغه ستراتیژیک موقعیت افغانستان د کاني منابعو له مخې نه یوازې د خپل اقتصادي پرمختګ لپاره مهم ګرځوي، بلکې د سیمه‌ییز جیوپولیټیکي وضعیت لپاره هم اهمیت لري ( Nazminia, 2013).

د افغانستان د کاني سکتور په برخه کې د سیمه‌ییزې همکارۍ فرصتونه خورا پراخ دي. افغانستان کولی شي له منځنۍ آسیا څخه د سوېلي آسیا بازارونو ته د کاني صادراتو لپاره مهمه سرچینه شي، په ځانګړې توګه د هندوستان او پاکستان لپاره چې د خامو موادو لکه

مس، اوسپنه او نادره ځمکنیو عناصرو ته اړتیا لري (Ali, 2024). دغه مواد د دغو هېوادونو د صنعتي پرمختګ لپاره اړین دي. همدارنګه، افغانستان د چین د "یو کمربند یو سړک " (BRI)پلان کې مهم رول لوبولی شي، چې چین ته د هغو کاني منابعو د لېږد لپاره فرصت ورکوي چې په پرمختللو ټکنالوژیو لکه برېښنایي موټرونو او نوې کېدونکې انرژۍ کې کارېږي (Nazminia, 2013).

چین، هندوستان او پاکستان، چې ټول د منابعو په برخه کې ډېر انحصار لري، د افغانستان د کاني سکتور پراختیا ته زیاتې ګټې لرونکي دي (Nazminia, 2013). د دغو هېوادونو ترمنځ دوه‌اړخیز او څو اړخیز تړونونه کولی شي د کاني سکتور په برخه کې ګډې پانګونې ته لاره هواره کړي، چې د دغه سکتور له لارې د سیمې اقتصادي اړیکې پیاوړې شي. د بېلګې په توګه، د دغو هېوادونو په ګډو کاني پروژو کې پانګونه کولی شي د زېربنایي جوړښتونو لکه د ترانسپورتي شبکو، ذخیرو او پروسس فابریکو پراختیا ته وده ورکړي، چې دا به د منابعو د استخراج د لګښتونو کمښت او د سکتور د پرمختګ لپاره خورا ګټور وي (Najafizada, 2011).

د افغانستان کاني منابع د منځنۍ آسیا نورو هېوادونو لپاره هم اقتصادي فرصتونه لري، چې غواړي خپل اقتصادونه متنوع کړي او خپلو سوداګریزو لارو ته پراختیا ورکړي. دغه هېوادونه کولی شي له افغانستان سره د همکارۍ له لارې خپلو بازارونو ته لاسرسی ولري. په ځانګړې توګه، ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان، چې له افغانستان سره ګډې پولې لري، د افغانستان له لارې له نړیوالو بازارونو سره سوداګریزې معاملې کولی شي (Khetran, 2019). د دې ترڅنګ، افغانستان کولی شي خلیجي هېوادونو ته د معدني منابعو صادراتو له لارې د سیمې د پراخې سوداګرۍ په لړ کې برخه واخلي (Hussein & Haddad, 2021). افغانستان د کاني سکتور په برخه کې د سیمه‌ییزې همکارۍ له لارې د اوږد مهاله اقتصادي ثبات او پراختیا لپاره زرین فرصتونه لري. افغانستان او د سیمې هېوادونه کولی شي د ګډو پانګونو او ټکنالوژیو شریکولو له لارې د کاني سکتور د

پراختیا سرعت زیات کړي (Silvia, 2023). د دغه سکتور د پرمختګ لپاره د حکومتي اصلاحاتو، مناسبو زېربناوو او پانګونې د اسانتیاوو په برابرونې سره افغانستان په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د خپلو معدني منابعو څخه زیاته ګټه ترلاسه کوي. لنډه دا چې د افغانستان کاني سکتور د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره یو ارزښتناک فرصت دی. د دغه سکتور له لارې افغانستان کولی شي د خپل اقتصادي پرمختګ لپاره د سیمه‌ییزو شراکتونو پراختیا ته لاره هواره کړي او د سیمې په کچه یو مهم اقتصادي او سیاسي لوبغاړی شي. د دغه سکتور د پیاوړتیا لپاره اړینه ده چې د سیمه‌ییزو هېوادونو ترمنځ همغږي، ګډې ګټې او ټکنالوژیکي وړتیاوې لا پسې زیاتې شي، ترڅو د ټولو اړخونو د ګټو تضمین ته لار هواره شي.

**۲. د افغانستان د کاني سکتور د پراختیا پر وړاندې ننګونې او فرصتونه**

په دې برخه کې د افغانستان د کاني سکتور لپاره د اقتصادي او سیاسي ارزښت په رڼا کې د سیمه‌ییزو او په ځانګړي ډول د ګاونډیو هېوادونو د همکارۍ فرصتونه خورا مهم دي. افغانستان د خپلو پراخو معدني زېرمو له لارې کولی شي د ګاونډیو هېوادونو لپاره د اقتصادي پراختیا یو مهم بنسټ شي. ګاونډي هېوادونه لکه پاکستان، ایران، چین، د منځنۍ آسیا هېوادونه او همدارنګه خلیجي هېوادونه د ګډو پانګونو، ټکنالوژۍ او زېربنایي پرمختګ له لارې د دغه سکتور څخه ګټه اخیستلی شي (Habib, 2024). د دې ترڅنګ، امنیتي ستونزې، غیر قانوني استخراج، د اسلامي امارت د رسمیت او د پیاوړي قانوني چوکاټ نشتوالی هغه ننګونې دي چې د دغو فرصتونو پر وړاندې خنډ ګرځي. د دې لپاره سیمه‌ییزه همکاري او ژورې سیاسي هڅې اړینې دي، ترڅو د کاني سکتور د اقتصادي ګټو ترڅنګ سیمه‌ییز ثبات هم تضمین کړي (Montgomery, 2021). په دې اړه لاندې سرلیکونه د پاملرنې وړ دي، ترڅو د کاني سکتور پر وړاندې خنډونه او فرصتونه وپېژندل شي.

### ۱,۲ سترې ننګونې

د افغانستان د کاني سکتور د پرمختګ پر وړاندې ګڼې سترې ننګونې لا تراوسه شته چې جدي پاملرنې ته اړتیا لري. که څه هم په اوسني وخت کې امنیتي اندېښنې او فساد دومره جدي ستونزې نه دي، خو تېرو ترخو تجربو ته په کتو لا هم وېره شته چې دغه ننګونې د کانونو د استخراج او پراختیا بهیر اغېزمن کړي. امنیتي اندېښنې د پانګوالو او کارکوونکو لپاره د دوامداره خطرونو په توګه پاتې دي، چې د کانونو استخراج او پروسس له خنډونو سره مخ کولی شي (Nero & Rahmani, 2022).

د دې ترڅنګ، پخوانۍ کمزورې حکومتولۍ او د اداري فساد قضیو د قانوني او تنظیمي چوکاټ د تطبیق په اړه شکونه پیدا کړي، چې په پایله کې یې د شفافیت نشتون د پانګونې لپاره د باور فضا کمرنګه کړې چې د غیر قانوني کړنو او عامه سرچینو د ناسم مدیریت خطر یې زیات کړی دی. همدا وجه ده چې د قانوني او تنظیمي چوکاټ کمزورتیا د کان کیندنې پر فعالیتونو د اغېزناکې څارنې مخه نیسي، نو د دغو ټولو ننګونو د حل لپاره د قوي مدیریت او اوږدمهاله ستراتیژیو پلي کول اړین دي (Abdelhady, 2018).

#### ۱,۱,۲ امنیتي اندېښنې

په تېرو څلورو لسیزو کې د افغانستان امنیتي وضعیت د دوامدارو جګړو او سیاسي بې‌ثباتۍ له امله په جدي توګه زیانمن شوی. له ۱۹۷۹ کال څخه د شوروي یرغل پیل، د کورنیو جګړو، د اسلامي امارت د واکمنۍ لومړۍ دوره، د شل کلن امریکایي یرغل دوره او په وروستیو کې د اسلامي امارت دوهم ځلي واک ته رسېدل، ټول د دغه هېواد د امنیتي وضعیت او ثبات په پېچلتیا کې اساسي رول لري. دغې اوږدمهالې سیاسي بې‌ثباتۍ د افغانستان د کاني سکتور پرمختګ ته ډېر زیان رسولی او د پانګونې لپاره یې د باور فضا کمزورې کړې ده (Lindsey, 2024). که څه هم د اسلامي امارت په راتګ سره د امنیتي اندېښنو ګراف را ښکته شوی، خو بیا هم تېر ته په کتو سره د بهرنیو پانګوالو لپاره د باور

جوړونې فرصت وخت ته اړتیا لري. همدا وجه ده چې کاني سکتور نه یوازې له تخنیکي او اقتصادي ننګونو سره مخ دی، بلکې د کارکوونکو، پانګوالو او د کانونو د پروژو امنیتي خوندیتوب هم یوه ستره ننګونه ده. د کاني سیمو په شاوخوا کې امنیتي اندېښنې، د راتلونکې په اړه د ډاډ نشتون او غیر قانوني کان کیندنې هغه عوامل دي چې د کاني سکتور د قانوني پرمختګ پر وړاندې یې خنډونه جوړ کړي دي (Shah, 2024).

افغانستان کولی شي د دغو امنیتي ننګونو د حل لپاره د سیمه‌ییزې همکارۍ له لارې د سیمه‌ییز ثبات لپاره په ګډه هڅې وکړي (Silvia, 2023). د افغانستان د کاني سکتور پرمختګ د سیمه‌ییزو هېوادونو لپاره ګټور دی، ځکه چې د دغه هېواد طبیعي زېرمې د اقتصادي همکاریو د پراختیا لپاره یوه ښه زمینه برابروي. د دې لپاره اړینه ده چې سیمه‌ییز هېوادونه د سیمه‌ییز امنیت خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي (Specialeurasia, 2024). که د افغانستان امنیتي ستونزې حل شي او د کاني سیمو امنیت ټینګ شي، نو دا سکتور نه یوازې د افغانستان لپاره د اقتصادي پرمختګ یو بنسټیز عنصر جوړېدی شي، بلکې د سیمه‌ییزې سوداګرۍ د پراختیا او له نړیوالو بازارونو سره د نښلون لپاره به نوې لارې هم پرانیزي. امنیت د کاني سکتور پرمختګ لپاره لومړنۍ اړتیا ده او د دې اړتیا پوره کول د ټولو ښکېلو هېوادونو ګډې هڅې غواړي، په ځانګړي ډول افغانستان د خپل امنیت مسؤولیت پر غاړه لري.

**۲،۱،۲ د اسلامي امارت د رسمیت نشتون او د اقتصادي بندیزونو اغېزې**

د افغانستان کاني سکتور د اسلامي امارت د نړیوالې رسمیت نه‌پېژندنې، د اقتصادي بندیزونو او د کاني سکتور د قانون د کمزوري تطبیق له امله له جدي ننګونو سره مخ دی. دا عوامل له یو بل سره تړلي دي او د بهرنیو پانګوالو د نه لېوالتیا، اقتصادي پرمختګ د ځنډ او د طبیعي زېرمو د غیرمسلکي استخراج لامل شوي دي. د نړیوالو اقتصادي بندیزونو او مالي محدودیتونو له امله د افغانستان په کاني سکتور کې پانګونه خورا محدوده شوې ده. دا محدودیتونه د اقتصادي پراختیا مخه نیسي، د کارموندنې فرصتونه کموي او د هېواد

د شتمنو طبيعي زېرمو د اغېزناکې استفادې مانع گرځي (Keatinge & Erausquin, 2022). سربېره پر دې، د بانکي محدوديتونو له امله خصوصي شرکتونه نشي کولی چې خوندي مالي لارې چارې ومومي.

د دې ترڅنگ، د افغانستان د اسلامي امارت د نړيوال رسميت نشتون د هېواد اقتصادي انزوا اوږدمهاله کړې ده، چې نه يوازې يې د بهرنيو پانگوالو باور کمزوری کړی، بلکې د نړيوالو مالي ادارو له مرستو او پانگونو څخه يې افغانستان محروم کړی دی. دا وضعيت د اقتصادي بې‌ثباتی، د عوايدو کمښت او د پانگوالو د لېوالتيا د کمېدو لامل شوی، چې په ځانگړي ډول يې کاني سکتور له جدي ننگونو سره مخ کړی دی (World Bank, 2024).

د نړيوال رسميت نشتون د افغانستان پر کاني سکتور پراخ سيوری غوړولی، ځکه د نړيوالو پانگوالو نشتون د تخنيکي ظرفيتونو د پراختيا، د کانونو د استخراج د معياريتوب او د عايداتي شفافيت رامنځته کولو مخه نيولې ده. همدارنگه، نړيوال شرکتونه، چې د پانگونې لپاره د حقوقي ثبات تضمين ته اړتيا لري، د افغانستان له کاني سکتور سره له ښکېلتيا څخه ډډه کوي. د دې تشې له امله، د کانونو غيرقانوني استخراج او قاچاق پراخ شوی، چې نه يوازې اقتصادي زيانونه رامنځته کوي، بلکې د پايدارې ودې فرصتونه هم له منځه وړي (Keatinge & Erausquin, 2022). د يادونې وړ ده چې د اقتصادي ودې، نړيوالې پانگونې او د کاني سکتور د تنظيم لپاره د اسلامي امارت نړيوال رسميت پېژندنه يوه حياتي اړتيا ده، ترڅو چې نړيوال رسميت ترلاسه شوی نه وي، اقتصادي محدوديتونه به دوام لري، د افغانستان د طبيعي زېرمو اغېزناکه گټه‌اخيستنه به ستونزمنه وي او افغانستان به د اوږدمهاله اقتصادي پرمختگ فرصتونه له لاسه ورکوي (Ruttig, 2023). د افغانستان د کاني سکتور د قوانينو کمزوري يو بل عامل دی چې کاني سکتور په جدي بڼه گواښي. د غيرقانوني استخراج او قاچاق دوام د هېواد طبيعي سرچينې بې‌مسؤليته مصرفوي، چې د اوږدمهاله اقتصادي پرمختگ مخه نيسي (Lakhani & Corboz, 2017). د پياوړي قانون

د نشتوالي له امله، د عوایدو منظم مدیریت ستونزمن شوی او د کاني سکتور د شفافیت تضمین له خنډ سره مخ شوی دی (Ahmad & Danielson, 2023). د افغانستان د کاني سکتور د پرمختګ لپاره اړینه ده چې اقتصادي محدودیتونه لرې شي، نړیوال تعامل زیات شي او د قانون د تطبیق وړتیا پیاوړې شي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان کاني سکتور د تېرو څلورو لسیزو په اوږدو کې د کمزورې حکومتولۍ او پراخ اداري فساد له امله له جدي ستونزو سره مخ شوی دی. دا ننګونې که څه هم اوسمهال نشته، خو د کاني سکتور پر پایدارۍ ودې او شفافیت منفي اغېزې لري. د بېلګې په توګه، د امریکایي یرغل دوره چې شل کاله یې دوام وکړ د حکومتونو کمزوري او غیر مسؤلانه چلند د دغه سکتور د پراختیا مخه نیولې ده (Noorani & Brouckere, 2016). که څه هم له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ پورې د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د افغانستان د بیارغونې هڅې پیل شوې وې، خو د کمزورې حکومتولۍ او پراخ اداري فساد له امله دغه هڅې تر ډېره بریده ناکامه شوې (Rose, 2016). د دې دورې په اوږدو کې د کانونو قراردادونه په غیر شفاف ډول ترسره کېدل، غیر قانوني کان کیندنې پراخې شوې وې او ډېرې عواید د حکومتي چارواکو او زورواکو جیبونو ته تلل. په نړیواله کچه د افغانستان د کانونو قراردادونه یو له هغو برخو څخه وو، چې په اړه یې د پراخ فساد راپورونه خپاره شوي دي (Kopplin, 2021).

د شل کلن امریکایي یرغل پرمهال کمزورې حکومتولي د دې لامل شوه، چې نه یوازې د کاني سکتور عایدات کم وي، بلکې د قانون او نظم نشتون د پانګوالو لپاره د باور فضا هم زیانمنه کړه. بالآخره سیمه‌ییز او نړیوال پانګوال د افغانستان کاني سکتور ته د کمزورې حکومتولۍ او اداري فساد له امله په سمه توګه داخل نه شول او دا حالت د اقتصادي ودې پر وړاندې لوی خنډ شو (Pikulicka-Wilczewska, 2019).

بالعکس، د ۲۰۲۱ کال اګسټ میاشت کې د افغانستان اسلامي امارت له واک ته رسېدو سره سم د اداري فساد پر وړاندې جدي مبارزه پیل شوه، چې د پام وړ لاسته راوړنې لري.

همدارنگه، ملت ته د حکومت لهخوا د شفافیت او حساب ورکونې نوې لارې چارې رامنځته شوې، چې د پانګونې لپاره یو ښه چاپېریال برابروي (Daryo, 2024)، خو بیا هم د کمزورې حکومتولۍ له پخوانیو منفي اغېزو زدهکړه اړینه ده. د دې ترڅنګ، د تېرو څلورو لسیزو ترخو تجربو ښودلې چې کمزورې حکومتولي د کاني سکتور پرمختګ له ګڼو ننګونو سره مخ کوي (Shroder, 2015). که د شفافیت، حساب ورکونې او اغېزناکو سیستمونو تضمین وشي، افغانستان کولی شي له خپل پراخ کاني سکتور څخه د ملي اقتصاد د ودې لپاره په اغېزناکه توګه ګټه واخلي. سیمهییزې همکارۍ او شفاف سیستمونه د دغه سکتور د بریا لپاره بنسټیز اهمیت لري.

### ۳,۱,۲ د قانوني چوکاټ کمزوري

د افغانستان د کاني سکتور د پرمختګ پر وړاندې د جدي ننګونو څخه یو هم د قانوني او مقرراتي چوکاټ کمزوري او خورا پېچلې بیروکراسي ده. د دغه سکتور لپاره د یو روښانه او شفاف قانوني چوکاټ نشتون د پانګوالو او سیمهییزو شریکانو لپاره ستره ننګونه ده. د قانون او مقرراتو نشتون د دغه سکتور د پراختیا لپاره یو خنډ ګرځېدلی، ځکه چې پانګوال د غیر شفاف چاپېریال او د قانون د بشپړ تطبیق د نشتوالي له امله د خپلو پانګو د خوندیتوب او عوایدو په اړه ډاډمن نه دي (Nero & Rahmani, 2022).

د افغانستان کاني سکتور د خپل کمزوري قانوني چوکاټ له امله له ګڼو ستونزو سره مخ دی. د بېلګې په توګه، د کانونو د استخراج لپاره د پروسو پېچلتیا، د قراردادونو غیر معیاري اصول او د پانګوالو د حقوقو د خوندیتوب ډاډمنتیا هغه برخې دي چې نه یوازې د داخلي ادارو ترمنځ پېچلې پروسه ګډوډ کېږي، بلکې د نړیوالو او سیمهییزو پانګوالو لپاره یې هم بېباوري رامنځته کړې ده. دا ستونزې نه یوازې په افغانستان کې د کاني سکتور پراختیا ته زیان اړوي، بلکې دغه سکتور د نړیوالو پانګوالو لپاره هم غیرجذاب معرفي کوي (Nero & Rahmani, 2022). په دې توګه، د قانوني چوکاټ کمزورتیا د سیمهییزو همکارانو لپاره هم یوه جدي اندېښنه رامنځته کړې ده. د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو

لپاره لکه پاکستان، ایران، چین او د منځنۍ آسیا هېوادونو لپاره د مشترکې پانګونې او همکارۍ پروژې د دې ستونزې له امله په پام کې نه دي نیول شوې. کله چې د قانوني چوکاټ ډاډمن وضاحت نه وي، سیمه‌ییز شریکان نه یوازې د خپلو پانګو په اړه شکمن وي، بلکې د ګډو پروژو په برخه کې هم احتیاطي اقدام کوي (Byrd & Noorani, 2014).

د دغې ستونزې د حل لپاره سیمه‌ییزه همکاري بنسټیز شرط دی. د افغانستان د کاني سکتور د پرمختګ لپاره باید یو روښانه او شفاف قانوني چوکاټ رامنځته شي، ترڅو د پانګوالو او سیمه‌ییزو شریکانو ترمنځ باور رامنځته کړي. دغه قانوني چوکاټ باید د پانګوالو حقونه خوندي کړي، د استخراج پروسې شفافیت تضمین کړي او د ځمکې او منابعو د سمو استفادو لپاره اړین مقررات وضع کړي، ترڅو د دغه سکتور پانګونه زیاته شي او د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره نوي فرصتونه رامنځته شي.

### ۴,۱,۲ د کان کیندنې چاپېریالي او ټولنیزې اغېزې

کان کیندنه که څه هم د اقتصادي پرمختګ لپاره حیاتي ده، خو د چاپېریال او ځایي ټولنو لپاره یې ځینې جدي منفي اغېزې د اندېښنې وړ دي. د کانونو استخراج او پروسس ډېری وختونه د ځنګلونو پرې کېدو، د استوګنځایونو له منځه وړلو، د خاورې تخریب، د اوبو او هوا د ککړتیا لامل ګرځي. دا چاپېریالي ستونزې ټولنیزو ستونزو ته لاره هواروي، چې د خلکو بېځایه کېدل، د ککړتیا له امله روغتیایي ستونزې او د ځمکې او سرچینو پر سر شخړې پکې شاملې دي (Bulletin, 2003). د دغو ننګونو پر وړاندې مبارزه او حل لارې متوازنه تګلاره غواړي، ترڅو اقتصادي ګټې له چاپېریالي او ټولنیز پایښت سره یوځای کړي. د کان کیندنې په برخه کې د هېوادونو ترمنځ همکاري کولی شي د دغو منفي اغېزو د کمښت لپاره کلیدي رول ولوبوي. په همدې اساس، ګډې هڅې کولی شي د چاپېریال د ساتنې او د دوامدارې کان کیندنې د کړنلارو د رامنځته کولو لپاره معیاري تګلارې جوړې کړي (Gary & Brandon, 2011).

د ګډې همکارۍ پر بنسټ سیمه‌ییز هېوادونه کولی شي د چاپېریال د ساتنې لپاره د پولو دواړو خواوو ته ځانګړي مقررات وضع کړي، د چاپېریالي معیارونو د پلي کولو لپاره د څارنې او تنفیذ قوي میکانیزمونه رامنځته کړي او د کان کیندنې په عملیاتو کې د چاپېریال د ساتنې په موخه د پرمختللو ټکنالوژیو کارونې ته لومړیتوب ورکړي. سربېره پر دې، د کانونو شاوخوا مېشتو ټولنو سره اړیکه نیول او ډاډ ورکول چې د کان کیندنې له فعالیتونو څخه یوازینۍ موخه د دوی لپاره دندې رامنځته کول، د زېربناوو پرمختګ، ټولنیزې پروژې پلي کول، د شخړو مخنیوی او هر اړخیز پرمختګ یقیني کول دي (Behera, 2023). لنډه دا چې د افغانستان او سیمه‌ییزو شریکانو ترمنځ همکاري کولی شي د کان کیندنې سکتور د اقتصادي، چاپېریالي او ټولنیزو ګټو ترمنځ یو متوازن حالت رامنځته کړي. دا تګلاره به د چاپېریال ساتنې او ټولنیز ثبات په برخه کې د مسؤولیت او دوامداره ودې لپاره لار هواره کړي.

### ۲،۲ د همکارۍ فرصتونه

د افغانستان لپاره د سیمه‌ییزې همکارۍ فرصتونه د اقتصادي ودې او ثبات د ترلاسه کولو لپاره ځانګړې اهمیت لري. سیمه‌ییزې سوداګرۍ او اقتصادي پرمختګ ته وده ورکول نه یوازې د افغانستان صادرات زیاتولی شي، بلکې د سیمې هیوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو پیاوړتیا ته هم لاره هواروي. د دې ترڅنګ، ګډې پانګونې او د ټکنالوژۍ شریکول کولی شي د کانونو په استخراج او پروسس کې نوي معیارونه رامنځته کړي او افغانستان د نړیوالو پانګوالو لپاره جذاب بازار وګرځوي. همدارنګه، د زېربناوو پراختیا لکه سړکونه، ریل پټلۍ او د انرژۍ پروژې، د هېواد کاني سکتور لپاره اړین دي، چې په پایله کې سیمه‌ییز اتصال او دوامدار پرمختګ تضمینوي (Parvez, 2020).

### ۱،۲،۲ سیمه‌ییزه سوداګري او اقتصادي وده

د افغانستان د کاني سکتور پراختیا د سیمې د اقتصادي ودې او سوداګریزې همکارۍ لپاره لوی فرصتونه لري. افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې طلا، مس،

اوسپنه، لیتیم او نادره ځمکني فلزات لري چې د دغو منابعو ارزښت تر سلګونو ملیارد ډالرو پورې اټکل شوی دی (Gary & Brandon, 2011). د افغانستان د معدني منابعو د پراختیا لپاره د ګاونډیو هېوادونو لکه پاکستان، ایران، چین او منځنۍ آسیا هېوادونو (ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان) د همکارۍ له لارې لویې اقتصادي ګټې ترلاسه کېدی شي (Amini, 2020).

پاکستان کولی شي د افغانستان له معدني منابعو څخه ګټه ترلاسه کړي، ترڅو خپل صنعتي بنسټ ته وده ورکړي او د خپلو تولیدي سکتورونو لپاره خامو موادو ته لاسرسی پیدا کړي. که افغانستان او پاکستان په ګډه د زېربنایي پروژو په څېر لکه د ریل پټلۍ جوړونه کې همکاري وکړي، نو دا به دواړو هېوادونو لپاره نړیوالو بازارونو ته د رسېدو په برخه کې نوي فرصتونه برابر کړي. د دغو پروژو له لارې به د ترانسپورت لګښتونه کم شي او د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې به پیاوړې شي (Javaid & Bowes, 2024).

ایران چې د افغانستان لوېدیځ ته نژدې دی، د دغو منابعو څخه د خپل فلزي او انرژۍ سکتورونو لپاره ګټه اخیستلی شي. د ایران او افغانستان ترمنځ ګډې پانګونې او د کانونو راټولونه او پروسس په برخو کې همکاري کولی شي د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې پیاوړې کړي (Silvia, 2023). د ایران پرمختللی زېربنایي جوړښت، لکه د ریل پټلۍ او بندرونه، کولی شي د افغانستان معدني منابع د اروپا او آسیا بازارونو ته ورسوي، چې دواړه هېوادونه به ورڅخه ګټه پورته کړي (Silvia, 2024).

چین چې د لیتیم او نادره ځمکنیو فلزاتو په څېر موادو ته اړتیا لري، د افغانستان کاني سکتور کې د پانګونې لپاره پراخې ګټې لري (Shah, 2024). د چین د "کمربند او لارې" نوښت چې افغانستان یې یوه مهمه برخه ده، د چین لپاره د حیاتي منابعو ترلاسه کولو او د سیمه‌ییز اتصال زیات فرصت برابر کړی دی. د چین د پانګونې له لارې به د افغانستان معدني منابع په چټکۍ سره راټول او پروسس کېږي، چې نه یوازې چین بلکې سیمه‌ییز

هېوادونه به هم له دغې پانګونې څخه ګټه پورته کړي (Marsden, 2021). د ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان په څېر د منځنۍ آسیا هېوادونو لپاره دا یو فرصت دی چې د افغانستان کاني منابع د خپلو اقتصادي ګټو لپاره وکاروي. دا هېوادونه د شراکت له لارې کولی شي د ترانسپورت د زېربناوو لکه د ریل او سړکونو جوړونه کې همکاري وکړي، ترڅو د افغانستان له معادنو څخه بهر ته منابع انتقال کړي. دا ډول زېربنایي همکاري به د دوی اقتصادي اړیکې له نړیوالو عرضه کوونکو سره ټینګې کړي او د دوی اقتصادي پرمختګ به پراخ کړي (ESCAP, 2015).

سیمه‌ییزه همکاري نه یوازې د اقتصادي ګټو سره تړاو لري، بلکې د سیاسي او ټولنیز ثبات په جوړونه کې هم مهمه ونډه لري. د ګډو اقتصادي ګټو له لارې هېوادونه کولی شي یو بل ته اړتیا ولري، چې د سولې او همغږۍ د ثبات لامل کېدی شي. د کانونو، انرژۍ او زېربنایي پروژو د ګډو هڅو له لارې د افغانستان کاري ځواک ته وده ورکول او د کار موندنې لپاره نوي فرصتونه رامنځته کول به اقتصادي وده کې فعال رول ولري (Cabayan, 2010). د دې ترڅنګ، نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي په برخه کې سیمه‌ییزه همکاري اړینه ده، ترڅو د منابعو د استخراج او د ترانسپورت په برخه کې د همغږۍ له لارې افغانستان او ګاونډي هېوادونه په ګډه له نړیوالو بازارونو سره اړیکې جوړې کړي. د ریل پټلۍ، سړکونو او هوایي ډګرونو په څېر د زېربنایي پروژو د جوړونې له لارې به افغانستان د معدني منابعو صادرولو لپاره اسانتیاوې برابرې کړي. دا به نه یوازې افغانستان ته اقتصادي وده ورکړي، بلکې ګاونډي هېوادونه به هم د نویو سوداګریزو فرصتونو په ترلاسه کولو سره د اقتصادي پراختیا په برخه کې خپلې ګټې ترلاسه کړي (Nasrudin, 2024).

د افغانستان معدني منابع د سیمې د اقتصادي پراختیا لپاره یو بې‌ساري فرصت وړاندې کوي. که ګاونډي هېوادونه په ګډه همکاري وکړي، نو کولی شي له دغو منابعو څخه بشپړې اقتصادي ګټې ترلاسه کړي، چې د سیاسي او ټولنیز ثبات په لاره کې هم رغنده مرسته کوي. دا ډول سیمه‌ییزه همکاري به افغانستان ته د یوه مهم اقتصادي شریک او د

سیمه‌ییزې پراختیا بنسټ جوړوونکي لقب ورکړي.

### ۲,۲,۲ ګډې پانګونې او د ټکنالوژۍ شریکول

د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ ګډې پانګونې او د ټکنالوژۍ شراکت د کان کیندنې په سکتور کې د چټک پرمختګ لپاره کلیدي ارزښت لري. د افغانستان په کانونو کې د طلا، لیتیم، اوسپنې، مس او نورو قیمتي موادو موجودیت دا هېواد د اقتصادي پراختیا لپاره د یو لوی فرصت په توګه معرفي کوي (Shroder, 2015). که افغانستان او ګاونډي هېوادونه په ګډه پانګونه وکړي او پرمختللې ټکنالوژۍ وکاروي، د کان کیندنې سکتور به په چټکۍ سره وده وکړي او سیمه به له دغه پرمختګ څخه هم اقتصادي او هم سیاسي ګټې ترلاسه کړي.

د پرمختللو ټکنالوژیو کارول کولی شي د کان کیندنې پروسه نه یوازې اغېزناکه کړي، بلکې د چاپېریال د اغېزو کمښت کې هم مرسته وکړي. پرمختللې ټکنالوژۍ د موادو د استخراج، پروسس او انتقال په برخو کې دقیق او منظم کار تضمینوي، چې د طبیعي زېرمو د ضایع کېدو مخه نیسي او د دوامدارې پراختیا بنسټ ایږدي. د دې ترڅنګ، دا ټکنالوژي د چاپېریال ساتنې لپاره مهم تدابیر وړاندې کوي، لکه د چاپېریالي ککړتیا د کمښت او د طبیعي زېرمو د معیارې استخراج لارې چارې تضمینوي (Corneau, 2019).

ګاونډي هېوادونه لکه چین، ایران، پاکستان او د منځنۍ آسیا هېوادونه په ځانګړي ډول د کاني استخراج له شراکت څخه پراخې ګټې پورته کولی شي. په داسې حال کې چې د افغانستان طبیعي زېرمې د چین د صنعتي اړتیاوو د پوره کولو لپاره حیاتي مواد برابروي، پکار ده چې د افغانستان د کانونو د استخراج لپاره پرمختللي وسایل او ماشینونه وکاروي، ترڅو د کانونو استخراج معیاري شي. پاکستان او ایران کولی شي د افغانستان له کانونو څخه ترلاسه شوي مواد په خپلو صنعتي سکتورونو کې وکاروي او په ګډه د پروسس مرکزونه ورته جوړ کړي، چې دواړو لوریو ته اقتصادي ګټې ورکړي (Matrix, 2024). ګډې پانګونې به د زېربناوو په جوړونه کې هم مرسته وکړي، لکه د ریل پټلۍ، سړکونو او

انرژۍ بندونه جوړول، چې د افغانستان کاني سکتور ته حیاتي اهمیت لري. دا زېربناوې نه یوازې د کان کیندنې په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کوي، بلکې د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې لا پیاوړې کوي (S.A.K, 2022). په لنډیز سره ویلی شو چې ګډې پانګونې او د ټکنالوژۍ شراکت د اقتصادي ثبات او دوامدارې پراختیا لپاره د باور وړ حل دی. دا به افغانستان د سیمې په کچه د اقتصادي ځواک په توګه څرګند کړي او له نړیوالو بازارونو سره د اړیکو جوړونې لپاره یوه نوې دروازه پرانیزي.

### ۳,۲,۲ زېربنایي پراختیا

د سیمه‌ییزو هېوادونو ترمنځ همکاري د ترانسپورتي شبکو، انرژۍ پروژو او زېربنایي تاسیساتو په پرمختګ کې رغنده رول لوبولی شي. افغانستان، چې د طبیعي زېرمو له پلوه بډایه هېواد دی، د کاني سکتور د پراختیا لپاره په اغېزناکو او پراخو زېربناوو اتکا لري. د سړکونو، ریل پټلیو او انرژۍ د پروژو د جوړونې له لارې د سیمه‌ییزو هېوادونو ترمنځ ګډه همکاري نه یوازې د کان کیندنې سکتور لپاره بنسټیز پرمختګونه رامنځته کوي، بلکې د سیمې په کچه د سوداګریزو اړیکو لپاره نوي فرصتونه هم رامنځته کوي (Gary & Brandon, 2011)، په ځانګړې ډول، د ترانسپورتي شبکو جوړول کولی شي افغانستان له نړیوالو بازارونو سره ونښلوي. د ریل پټلیو جوړول به له کانونو څخه د استخراج شوو موادو د لېږد اسانتیا رامنځته کړي او د ترانسپورتي لګښتونو کچه به راټیټه کړي. د سړکونو د جوړونې او بیارغونې پروژې به نه یوازې کاني سکتور ته اسانتیاوې رامنځته کړي، بلکې د افغانستان د کلیو او بانډو د پرمختګ لپاره به هم حیاتي رول ولوبوي (Aimal, 2022).

د انرژۍ د پروژو پراختیا هم د زېربناوو د پرمختګ یوه بله مهمه برخه ده، د کانونو د استخراج او پروسس لپاره کافي انرژۍ ته اړتیا ده، چې د سیمه‌ییزو هېوادونو له همکارۍ پرته ناشونې ده. د ګاونډیو هېوادونو په همکارۍ د برېښنا بندونه او د انرژۍ تولیدي فابریکې جوړېدی شي، چې نه یوازې د کاني سکتور لپاره کافي انرژي چمتو کوي، بلکې د سیمه‌ییزو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي نښلون لپاره یوه مهمه سرچینه ګرځي (Khan H.

(2024 ,.. لنډه دا چې د زېربناوو پرمختګ د سیمه‌ییزو هېوادونو لپاره د اقتصادي ودې او د اړیکو د پراختیا یو ګټور فرصت دی. افغانستان او ګاونډي هېوادونه کولی شي د ګډې همکارۍ له لارې د پرمختګ نوې لارې پرانیزي او سیمه‌ییزې سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي.

## ۳,۲ د همکارۍ د فرصتونو ارزښت

د افغانستان کاني سکتور د اقتصادي ودې او سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره یو بې‌ساري فرصت برابروي. له دغه سکتور څخه اغېزناکه ګټه اخیستنه کولی شي نه یوازې د افغانستان اقتصادي ثبات ته وده ورکړي (Azzam, 2023)، بلکې د ګاونډیو هېوادونو لکه پاکستان، ایران، چین، او د منځنۍ آسیا هېوادونو لپاره هم نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي نوې لارې پرانیزي. سیمه‌ییز هېوادونه کولی شي د ګډې همکارۍ له لارې د کان کیندنې په نړیوال صنعت کې یو ګډ اغېزناک موقف ترلاسه کړي، چې له دې سره اقتصادي ګټې، سوداګریزې اړیکې او اوږدمهاله سیمه‌ییز ثبات پیاوړی کېږي (Khetran, 2019).

کاني سکتور ته د پانګونې راجلبول د سیمه‌ییزې همکارۍ پر مټ ترسره کېږي، دا همکاري کولی شي نړیوال پانګوال وهڅوي چې د کان کیندنې په برخه کې پانګونه وکړي، د دغه سکتور زېربناوې پیاوړې کړي او د ټکنالوژۍ پرمختګ ته زمینه برابره کړي. د دغو پروسو په پایله کې نه یوازې د افغانستان اقتصادي بنسټونه غښتلي کېږي، بلکې د کارموندنې فرصتونه هم رامنځته کېږي چې له امله یې د خلکو د ژوند سویه لوړېږي (Rahim & Miller, 2021).

سربېره پردې، ګاونډي هېوادونه کولی شي د سیمه‌ییزې همکارۍ له لارې د ګډو ګټو پر اساس په نړیوالو بازارونو کې سیالي وکړي. د شفافیت د تضمین لپاره په ګډه کاري چوکاټونو کې د شفاف سیستم رامنځته کول اړین دي، ترڅو پانګوال په دغه سکتور کې داومنه پانګونه وکړي (Zhuwarara, 2024). په دې توګه، سیمه‌ییزې همکارۍ نه یوازې اقتصادي پرمختګ ته وده ورکوي، بلکې د سیاسي اړیکو او ستراتیژیکو ملګرتیاوو په

پیاوړتیا کې هم فعال رول لوبوي (Silvia, 2023). د افغانستان کاني سکتور د سیمه‌ییزو هېوادونو لپاره یو ستراتیژیک فرصت دی چې له اقتصادي او سیاسي دواړو اړخونو یې په اغېزناک ډول گټه د ټولو لپاره ممکنه ده. افغانستان او گاونډي هېوادونه د گډو هڅو او همکارۍ له لارې کولی شي په نړیواله کچه د کان کیندنې سکتور کې د گډو گټو د خوندیتوب په موخه ستراتیژیکه ملگرتیا وکړي (Gary & Brandon, 2011).

**۳. چین او مرکزي آسیا سره د افغانستان د اقتصادي پراختیا نوې لارې**

د افغانستان کاني سکتور د اقتصادي پرمختگ او سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره ستر پوتنسیال لري. افغانستان د مس، اوسپنې، لیتیم او نورو مهمو منرالونو په گډون د طبیعي زېرمو یوه غني سرچینه ده. د دغو زېرمو له برکته افغانستان کولی شي له چین او د مرکزي آسیا هېوادونو سره ستراتیژیک نښلون رامنځته کړي. دا همکارۍ د متقابل اقتصادي پرمختگ او سیمه‌ییز ثبات لپاره بنسټیز رول لوبولی شي.

**۱,۳ اقتصادي اړیکې**

افغانستان د هغو طبیعي زېرمو کوربه دی چې د نړۍ د ټکنالوژۍ او انرژۍ سکتور لپاره حیاتي ارزښت لري. د دغو زېرمو استخراج او پروسس کولی شي د افغانستان اقتصادي پرمختگ ته په چټکۍ سره وده ورکړي. چین، چې د کانونو په برخه کې پرمختللې ټکنالوژي او پراخې تجربې لري، کولی شي د افغانستان د کاني سکتور وده کې کلیدي رول ولوبوي. له بلې خوا، چین د دغې همکارۍ له لارې د هغو مهمو منرالونو یوه ثابته عرضه یقیني کوي چې د دغه هېواد د تولیدي سکتور لپاره اړینه گڼل کېږي (Tivey & Li, 2021).

د افغانستان اسلامي امارت له راتگ وروسته چین د افغانستان کاني سکتور کې پانگونه پیل کړې، خو افغانستان ته په کار ده چې خپل کاني مواد د داخلي پروسس له لارې صادر کړي، ځکه دا به گټې څو چنده زیاتې کړي. اوس‌مهال چین د کانونو استخراج کوي او په خپل هېواد کې یې پروسس کوي، چې افغانستان ته لږ عاید برابروي (Blumenthal,

(Purdy, & Bassetti, 2022). که پروسس په افغانستان کې دننه ترسره شي، نو نه یوازې اقتصادي ګټې به لوړې شي، بلکې افغانانو ته به هم په پراخه کچه د کار زمینې برابرې شي. دا نوښت د اوږدمهاله اقتصادي ودې لپاره حیاتي ارزښت لري.

د مرکزي آسیا هېوادونه، چې خپله هم د کانونو پراخ صنعتونه لري، د افغانستان له کانونو ګټه اخیستنه کې ګډې ګټې لري (Esteves, Ogorodnikova, Putz, & Coyne, 2014). د دې همکارۍ له لارې د سیمه‌ییزو بنسټونو لکه د رېل‌پټلۍ، سړکونو او انرژۍ پایپ‌لاینونو پراختیا هم ترسره کېدلی شي، په ځانګړي ډول، د چین د "یو کمربند یوه لاره" نوښت (BRI) افغانستان ته یو مهم فرصت برابروي. افغانستان، چې د سویلي او مرکزي آسیا په زړه کې پروت دی، کولی شي د دې شبکې یوه مهمه برخه وګرځي او سیمه‌ییزې سوداګرۍ ته وده ورکړي (Marsden, 2021).دا اقتصادي همکارۍ کولی شي په سیمه‌ییزه کچه پراخه دندې رامنځته کړي، د خلکو د ژوند سویه لوړه کړي او د فقر کچه را ټیټه کړي. د کاني سکتور په ګډو پانګونو کې د ښوونځیو، روغتونونو او نورو بنسټونو جوړول د افغانستان خلکو ته عملي ګټې رسولی شي (UNDP, 2020).

### ۲,۳ سیاسي اړیکې

د افغانستان کاني سکتور یوازې اقتصادي ګټې نه لري، بلکې د سیمه‌ییزې سولې او ثبات لپاره هم یو مهم فرصت ګڼل کېږي. د چین، منځنۍ او سویلي آسیا هېوادونو سره ګډې ستراتیژیکې همکارۍ کولی شي د افغانستان په اوږدمهاله ناامنۍ کې د کمښت مرسته وکړي او پایدار ثبات رامنځته کړي (Ahmad & Danielson, 2023). چین او روسیه چې د امریکا لوی حریفان دي، د افغانستان امنیت د ځان امنیت ګڼي، د افغانستان سیاسي ثبات د دوی پر ګټه دی، په ځانګړي ډول چین د افغانستان په زېربناوو کې پراخې پانګونې کړې دي. په همدې اساس، چین کولی شي د کاني سکتور په وده کې خپل فعال رول ولوبوي او د اقتصادي پرمختګ له لارې د افغانستان سیاسي ثبات یقیني کړي (Shah, 2024). سربېره پردې، د منځنۍ آسیا هېوادونه او هند هم په دې لټه کې دي چې

د افغانستان ثبات ته د خپل امنیت او اقتصادي گټو په نظر وگوري. سیمه‌ییزې همکارۍ کولی شي د ناقانونه کان‌کیندنې او قاچاق په مخنیوي کې مرسته وکړي. د کانونو د پروژو، ترانسپورتي لارو او اړوند هېوادونو د پولو د امنیت لپاره گډ امنیتي تدابیر د دغو ستونزو مخنیوی کې بارز رول لوبوي (Amini, 2020).

### ۳,۳ ستراتیژیک اهمیت

د افغانستان د کاني سکتور اهمیت یوازې په اقتصادي گټو کې محدود نه دی، بلکې دا سکتور د هېواد او سیمې لپاره ستراتیژیک ارزښت لري. افغانستان د خپلو طبیعي زېرمو پر مټ کولی شي چې د نړیوال کاني بازار په سیالۍ کې خپل موقعیت پیاوړی کړي. د کانونو استخراج او پروسس نه یوازې د هېواد اقتصادي عواید زیاتوي، بلکې د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره هم نوي فرصتونه رامنځته کوي (Alemarah, 2024). کاني صنعت د انرژۍ قوي سرچینو ته اړتیا لري، چې د سیمې هېوادونه د گډو انرژیزو پروژو لپاره همکارۍ ته هڅوي. د لمریزې او بادي برېښنا په څېر نوښتگرې پروژې کولی شي د دغه سکتور ملاتړ وکړي. دا ډول پروژې نه یوازې کاني صنعت پیاوړی کوي، بلکې د چاپېریال ساتنې لپاره هم گټورې دي. په دې توگه، د کاني سکتور پراختیا د افغانستان لپاره نه یوازې اقتصادي، بلکې سیمه‌ییز او نړیوال پرمختگ ته لاره هواروي (Khan H., 2024).

### ۴,۳ سیمه‌ییز امنیت او د افغانستان د کاني سکتور د پرمختگ اړیکه

د افغانستان د کاني سکتور پرمختگ له سیمه‌ییز امنیتي وضعیت سره ژور تړاو لري. افغانستان د بیلابیلو معدنیاتو لکه مس، اوسپنه، لیتیم او نادره ځمکنیو عناصرو لویې زېرمې لري چې د پام وړ اقتصادي امکانات وړاندې کوي، خو د سیمې بې ثباته امنیتي وضعیت د دغو قیمتي منابعو د استخراج او استفادې پر وړاندې لویې ستونزې راپنځوي، چې په دې برخه کې ملي او نړیوال پانگوال له گڼ شمېر ننگونو سره مخ کېږي (Khetran, 2019). د منځنۍ آسیا جیوپولیتیکي وضعیت چې د سیمې مهمو قدرتونو لکه چین،

روسیې او هند ترمنځ د رقابتونو او ستراتیژیکو ګټو له مخې جوړ شوی، په مستقیمه توګه د افغانستان پر کاني سکتور باندې اغېزې لري. چین، روسیه او هند د افغانستان ثبات ته خورا زیات اهمیت ورکوي، ځکه چې دوی د افغانستان د ملي امنیت خوندیتوب د ځانونو او سیمې لپاره اړین ګڼي (Felbab-Brown, 2024). د دغو قدرتونو پانګونې د افغانستان کاني سکتور کې د اړتیا له مخې ترسره کیږي، ترڅو د خپلو صنعتونو لپاره اړین معدنیات ترلاسه کړي او په سیمه کې خپلې جیوپولیټیکې اغېزې پیاوړې کړي (Ali, 2024).

چین د خپلې "یو کمربند یوه لاره" پروژې (BRI) له لارې د سیمه‌ییزو همکاریو لپاره یو ستراتیژیک چوکاټ وړاندې کوي (Marsden, 2021). د زېربنایي جوړښتونو لکه ریل پټلۍ، سړکونه او د انرژۍ پایپ لاینونو په پرمختګ سره د BRI پروژه کولی شي نړیوالو بازارونو ته د افغانستان د معدنیاتو د انتقال پروسه ساده کړي (Totakhil, 2019). دا زېربنایي پراختیا د نړیوالو پانګوالو د جلب او جذب او د معدني پروژو د اوږدمهاله بریا لپاره حیاتي ده. همدارنګه، سیمه‌ییز امنیتي وضعیت د افغانستان، چین، هند او منځنۍ آسیا هیوادونو ترمنځ د قوي همکارۍ اړتیا لري (Masalbekova, 2024). د کانونو د استخراج ساحې، د ترانسپورت لارې او د زېربنایي پروژو خوندیتوب لپاره ګډې هڅې اړینې دي، ترڅو له سیاسي بې‌ثباتۍ سره تړلي خطرونه کم شي او غیرقانوني فعالیتونه لکه غیرقانوني کان کېندنه او قاچاق چې اقتصادي پرمختګ ته زیان رسوي، له منځه یوړل شي (Liaqat & Abbasi, 2023).

لنډه دا چې د افغانستان د کاني سکتور بریالی پرمختګ د یو خوندي او باثباته چاپېریال جوړونې پورې تړلی دی، چې یوازې د سیمه‌ییزې همکارۍ له لارې ممکن دی. افغانستان او ګاونډي هېوادونه کولی شي د ستراتیژیکو شراکتونو جوړونې او د ګډو امنیتي تدابیرو د تطبیق له لارې د کاني سکتور ظرفیت لوړ کړي، ترڅو د اوږدمهالې اقتصادي ودې او سیمه‌ییز ثبات په برخه کې مهمه ونډه ولري.

**۴. د سیمه‌ییزو سازمانونو ځواک: د افغانستان اقتصادي نښلون او د کاني سکتور وده**

سیمه‌ییز سازمانونه په افغانستان کې د اقتصادي نښلون او د کاني سکتور د پرمختګ لپاره بنسټیز اهمیت لري. افغانستان په پراخه کچه معدني زېرمې لري چې د اقتصادي ودې لپاره ستر فرصتونه ګڼل کېږي. د دغه سکتور د پرمختګ لپاره د شانګهای د همکارۍ سازمان، د اقتصادي همکارۍ سازمان، د منځنۍ آسیا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پروګرام، د جنوبي آسیا د سیمه‌ییزو همکاریو ټولنه او د آسیایي پراختیا بانک اړین رول لوبوي (Wardak, 2018).

د شانګهای د همکارۍ سازمان او د اقتصادي همکارۍ سازمان په بنسټیزو پروژو لکه د ریل‌پټلیو، سړکونو، او د انرژۍ پایپ‌لاینونو جوړونه کې همکارۍ ته وده ورکوي. دغه زېربناوې د افغانستان د معدني زېرمو نړیوالو بازارونو ته د رسونې لپاره خورا مهمې دي او د نړیوالو پانګوالو د جلب لپاره اسانتیاوې برابروي. بلخوا، د منځنۍ آسیا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پروګرام، د جنوبي آسیا د سیمه‌ییزو همکاریو ټولنه او د آسیایي پراختیا بانک د سوداګرۍ او پانګونې چوکاټونه همغږي کوي، چې د ترانسپورتي لګښتونو د کمښت ترڅنګ سیمه‌ییزې اقتصادي اړیکې پراخې او پیاوړې کړي (CAREC, 2020).

سربېره پردې، سیمه‌ییز سازمانونه د ټکنالوژۍ شریکول، د وړتیا لوړونې پروګرامونه او ګډو پانګونو له لارې افغانستان ته د کان کیندنې عصري میتودونه وړاندې کوي. دغه سازمانونه د همکارۍ له لارې ثبات ته وده ورکوي، امنیتي ننګونې کموي او کاني سکتور کې د پراخې پانګونې لپاره زمینه برابروي. سیمه‌ییز سازمانونه د افغانستان د کاني سکتور او اقتصادي ادغام لپاره حیاتي ارزښت لري، چې له لارې یې د اوږدمهاله پرمختګ او سیمه‌ییزې سوکالۍ لپاره لار هوارېږي (Kumar, 2024).

**۱,۴ د شانګهای همکارۍ سازمان**

د شانګهای همکارۍ سازمان[1] په ۲۰۰۱ کال کې جوړ شو او افغانستان د ۲۰۱۲ کال

[1] Shanghai Cooperation Organization

راهیسې د دغه سازمان ناظر غړی دی (Desk, 2024). شانګهای سازمان د افغانستان د کاني سکتور په پرمختګ کې حیاتي رول لوبولی شي. د دغه سازمان غړي، لکه چین، روسیه او د منځنۍ آسیا هېوادونه، د افغانستان په ثبات کې خپلې امنیتي او اقتصادي ګټې ویني. د دغه سازمان د همکارۍ موخه د سیمه‌ییز ثبات د ټینګښت او د اقتصادي پرمختګ لپاره د ګډو هڅو ترسره کول دي (Lalrinfel & Tripathi, 2018)، په ځانګړې توګه د افغانستان د بډایه کانونو استخراج او پروسس د دغه سازمان له غړو سره د پیاوړو اړیکو لپاره غوره فرصتونه وړاندې کوي.

شانګهای سازمان د زیربنایي پراختیا لپاره پراخې هڅې کوي، چې د رېل‌پټلۍ، سړکونو او انرژۍ پایپ‌لاینونو جوړول پکې شامل دي. دا ډول پروژې د افغانستان کانونه نړیوالو بازارونو ته رسوي، پانګوالو ته د پانګونې لپاره د باور وړ چاپېریال رامنځته کوي او د کاني سکتور د دوامداره پرمختګ لپاره لاره هواروي (Khan & Mahmood, 2023). د دې ترڅنګ، دغه سازمان د ټکنالوژۍ شریکول او د مسلکي وړتیاوو لوړونه کې کافي تجربه لري، ترڅو افغانستان د کان کیندنې پرمختللي تخنیکونه ترلاسه کړي. افغانستان کولی شي د دغه سازمان د ګډو هڅو له لارې د خپلو کاني سرچینو پټ ظرفیتونه په اغېزناکه توګه وکاروي. په دې توګه، شانګهای سازمان نه یوازې د افغانستان د اقتصادي ودې په برخه کې مرسته کوي، بلکې د سیمه‌ییزې همکارۍ او اقتصادي نښلون لپاره بنسټیز ګامونه هم پورته کوي (Panda, 2011).

### ۲,۴ د اقتصادي همکارۍ سازمان

د اقتصادي همکارۍ سازمان[1] چې په ۱۹۸۵ کال کې جوړ شوی، د افغانستان او د سیمې هېوادونو لپاره د اقتصادي همکارۍ یو مهم سازمان دی. د دغه سازمان موخه د سوداګرۍ، پانګونې، او زیربنایي پراختیا لپاره د سیمه‌ییزو همکاریو د هڅونې له لارې د غړو هېوادونو اقتصادي وضعیت ښه کول دي (ADB, 2015). د اقتصادي همکارۍ سازمان په ځانګړې

[1] Economic Cooperation Organization

توگه په افغانستان کې د کاني سکتور لپاره د زېربناوو د جوړونې او پانګونې د پراختیا لپاره رغنده رول لوبولی شي. د دغه سازمان له لارې، افغانستان د غړو هېوادونو سره په ګډو زېربنایي پروژو، لکه د سړکونو، رېل‌پټلۍ او انرژۍ نل‌لیکو په جوړونه کې ونډه اخیستلی شي. دا ډول پرمختګونه نه یوازې کاني سکتور ته وده ورکوي، بلکې د افغانستان صادراتي ظرفیت لوړوي او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي لپاره اسانتیاوې برابروي (Gary & Brandon, 2011).

د دې ترڅنګ، د دغه سازمان د غونډو او کنفرانسونو له لارې د غړو هېوادونو ترمنځ د ګډو پانګونو، ټکنالوژۍ شریکولو او د کان کیندنې په تخنیکونو کې د وړتیاوو لوړونې لپاره هڅې کوي. د دغه سازمان د قانوني او تنظیمي چوکاټونو همغږي د افغانستان د کان کیندنې د عملیاتو اسانتیا لپاره ډېر مهم دي. په دې توګه، د اقتصادي همکارۍ سازمان د افغانستان کاني سکتور کې د نړیوالې سیالۍ وړتیا زیاتوي او سیمه‌ییز اقتصادي نښلون ته وده ورکوي (Pomfret, 1997).

**۳,۴ د منځنۍ آسیا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پروګرام**

د منځنۍ آسیا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پروګرام[1] چې د آسیایي پراختیا بانک له‌خوا پر مخ وړل کېږي، د افغانستان د کاني سکتور د ودې او سیمه‌ییز اقتصادي ادغام په برخه کې مهم رول لري. دا پروګرام چې غړي هېوادونه یې افغانستان، چین، قزاقستان، قرغزستان، مغولستان، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان دي، د سیمه‌ییزو اړیکو، سوداګرۍ او پانګونې په پرمختګ تمرکز لري (CAREC, 2020). دغه پروګرام د زېربنایي پروژو ملاتړ کوي لکه سړکونه، رېل پټلۍ او د انرژۍ پایپ‌لاینونه، چې افغانستان له نړیوالو بازارونو سره نښلوي. د دغو زېربناوو له لارې د ترانسپورت لګښتونه کمېږي او د افغانستان کاني محصولات نړیوالو بازارونو ته رسېږي (ADB, 2018). سربېره پر دې، د منځنۍ آسیا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پروګرام د ټکنالوژۍ د لېږد او ظرفیت لوړونې

[1] Central Asia Regional Economic Cooperation

پروګرامونه پر مخ وړي، چې افغانستان ته د عصري او پایدارې کان‌کیندنې د کړنلارو د تطبیق فرصت ورکوي. دغه پروګرام د تنظیمي چوکاټونو له لارې سیمه‌ییزه همکاري پیاوړې کوي، چې په پایله کې د پانګونې لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کېږي او په کاني سکتور کې شته خنډونه کموي (CAREC, 2017). دغه پروګرام د افغانستان د کاني سکتور د ودې ترڅنګ، سیمه‌ییزې اقتصادي اړیکې هم غښتلې کوي، چې په پایله کې د اړیکو ښه‌والی او سیمه‌ییزه همکاري نه یوازې د افغانستان د اقتصادي ودې لامل ګرځي، بلکې د اوږدمهاله سیمه‌ییز ثبات لپاره هم ګټور تمامېږي.

### ۴,۴ د سوېلي آسیا د سیمه‌ییزو همکاریو ټولنه

د سوېلي آسیا د سیمه‌ییزو همکاریو ټولنه[1] په ۱۹۸۵ کې تاسیس شوه، چې لومړنی موخې یې د خپلو غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سیمه‌ییز ادغام هڅې دي. دغه ټولنه اته غړي لري چې افغانستان، بنګله‌دېش، بوتان، هند، مالدیف، نیپال، پاکستان او سریلانکا دي. سارک سازمان د افغانستان د کاني سکتور په تړاو په سیمه‌ییزه سوداګرۍ، پانګونې او اقتصادي همکارۍ ولاړ دی (Mehrpor, 2019).

سارک سازمان د غونډو او سرمشریزو له لارې سیمه‌ییزې همکارۍ چمتو کوي چې غړي هېوادونه د اقتصادي پرمختګ لپاره اړینو ستراتیژیو باندې بحث کوي. د دغه سازمان غونډې د ګډو پانګونو او ټکنالوژۍ د شریکولو فرصتونه برابروي، چې د افغانستان د کانونو د استخراج او پروسس لپاره مهم دي. همدارنګه، سارک سازمان هڅه کوي چې د غړو هېوادونو ترمنځ پالیسۍ او مقررات همغږي کړي، ترڅو د کان کیندنې عملیات ساده او د بیروکراتیکو ننګونو مخنیوی په بریالیتوب سره وکړي (Mujaddid, 2024) .

سربېره پردې، سارک سازمان د زېربنایي پروژو لکه سړکونو، ریل‌پټلیو، او انرژیزو پروژو پراختیا ته زیات اهمیت ورکوي، چې د کانونو د ترانسپورت لپاره اړین دي. سارک

[1] South Asian Association for Regional Cooperation

د سیمه‌ییزو اړیکو د پیاوړتیا له لارې د افغانستان او سوېلي آسیا په پراخه سیمه کې د اقتصادي رشد او ثبات لپاره بنسټیزه مرسته کوي (Shrestha, 2015).

### ۴,۵ د آسیایي پراختیا بانک

د آسیایي پراختیا بانک[1] د افغانستان اقتصادي نښلون کې د پام وړ رول لوبوي، په ځانګړې توګه د کاني سکتور پراختیا ته نوره هم پیاوړې کړې. د دغه بانک د غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکارۍ او ودې هڅې د افغانستان د پرمختګ لپاره خورا مهمې دي (ADB, 2021). د آسیایي پراختیا بانک په افغانستان کې د زېربنایي پروژو تمویل ته ځانګړې پاملرنه کوي، لکه سړکونه، ریل پټلۍ او انرژۍ پایپ لاینونه چې د افغانستان او نړیوالو بازارونو ترمنځ د نښلون لپاره اړین دي.

د سیمه‌ییزې همکارۍ په موخه دغه بانک د ترانسپورت لګښتونه را کموي او نړیوالو پانګوالو ته د پانګونې پراخه زمینه برابروي. سربېره پردې، دغه بانک د ظرفیت لوړونې پروګرامونو او ټکنالوژۍ د شریکولو له ابتکاراتو ملاتړ کوي، چې د افغانستان د کاني استخراج او پروسس اغېزمنتیا ډاډمنوي (ADB, 2019). د آسیایي پراختیا بانک د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ له لارې د (CAREC) پروګرام په شان ابتکارات پرمخ وړي، چې د افغانستان د کاني سکتور لپاره د سوداګرۍ، پانګونې او زېربنایي پراختیا د پیاوړتیا هدف لري. د دغو پروګرامونو له لارې آسیایي پراختیا بانک د افغانستان د اقتصادي ادغام او پراختیا لپاره اوږدمهاله پایلې تضمینوي (ADB, 2024).

### ٦,۴ د رسمیت نشتون؛ د افغانستان او سیمې ترمنځ د اقتصادي پیوستون خنډ

سیمه‌ییز سازمانونه، لکه د شانګهای د همکاریو سازمان، د اقتصادي همکاریو سازمان، د منځنۍ آسیا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پروګرام، د جنوبي آسیا د سیمه‌ییزو همکاریو ټولنه او د آسیایي پراختیا بانک، کولی شي د افغانستان د اقتصادي ادغام او د کاني سکتور د ودې لپاره مهم رول ولوبوي (Aziz, 2012). خو د افغانستان اسلامي امارت

[1] Asian Development Bank

د نړیوالې ټولنې له‌خوا په رسمیت نه‌پېژندنې له امله، دغه سازمانونه نشي کولی د کان کیندنې سکتور ته لازمه وده ورکړي. د نړیوال رسمیت نشتون د سیمه‌ییزو همکاریو پر وړاندې خنډ ګرځېدلی او د زیربنایي پروژو د پرمختګ مخه یې نیولې ده، چې له امله یې د پانګوالو باور کم شوی او د هېواد اقتصادي ظرفیتونه په اغېزمنه توګه نه‌شي کارېدلی (Mine Action Review, 2022).

سربېره پر دې، پر افغانستان لګېدلي اقتصادي بندیزونه د دې سبب شوي چې هېواد ته د نړیوالو مالي مرستو، بانکي اسانتیاوو او سوداګریزو همکاریو جریان ټکنی شي (Keatinge & Erausquin, 2022). د دغو بندیزونو له امله نه یوازې د کان کیندنې سکتور ته د پانګوالو لاسرسی محدود شوی، بلکې د هېواد د صادراتو او عوایدو پراخېدو ته هم زیان رسېدلی. د اقتصادي بندیزونو دوام د افغانستان د اقتصادي ودې، د کارموندنې فرصتونو او د طبیعي زېرمو د مؤثرې استفادې پر وړاندې لوی خنډونه ګڼل کېږي (World Bank, 2024).

لنډه دا چې د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت نه‌پېژندنې او اقتصادي بندیزونو له امله، سیمه‌ییز سازمانونه نه‌شي کولی د هېواد د کاني سکتور د پرمختګ لپاره عملي ګامونه واخلي. دا وضعیت نه یوازې د نړیوالو پانګوالو د بې‌باورۍ، بلکې د سوداګریزو او ټکنالوژیکو همکاریو د محدودیت سبب شوی، چې په پایله کې د افغانستان اقتصادي ادغام او د کان کیندنې سکتور وده ټکنۍ شوې ده. د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره د افغانستان اسلامي امارت نړیوال مشروعیت حیاتي ارزښت لري، ترڅو چې افغانستان نړیوال رسمیت ترلاسه نه کړي او اقتصادي بندیزونه نه وي لرې شوي، دغه سازمانونه به ونه‌شي کولی د هېواد د طبیعي زېرمو د استخراج، پروسس او بازارموندنې ډګر کې اغېزناکه ونډه واخلي.

**۵. پایله او سپارښتنې**

د افغانستان کاني شتمني د دغه هېواد لپاره نه یوازې یو اقتصادي ځواک، بلکې د سیمه‌ییزې همکارۍ، نړیوالې پانګونې او ستراتیژیک نفوذ لپاره یو بې‌ساري فرصت ګڼل

کېږي. د نادره ځمکنیو عناصرو، اوسپنې، مس، طلا، زمرد، لاجورد او نورو طبیعي زېرمو پراخ شتون افغانستان ته دا زمینه برابروي، چې د نړیوالو بازارونو یوه مهمه سرچینه وګرځي. خو دا بالقوه اقتصادي ځواک د قانوني چوکاټ د کمزورۍ، امنیتي ننګونو، د زیربنایي سیستم نشتون او د افغانستان اسلامي امارت د نړیوال مشروعیت نشتون د مسائلو له امله له جدي ننګونو سره مخ دی. د دغو ننګونو حل یوازې د تقنیني اصلاحاتو او د پانګوالو د حقوقي امنیت د تضمین له لارې ممکن دی، ترڅو نړیوال پانګوال وهڅول شي او د افغانستان د کاني سکتور پراختیا ته لار هواره شي.

سربېره پر دې، د افغانستان کاني سکتور د ګاونډیو هېوادونو لپاره ځانګړی اقتصادي ارزښت لري. د چین، هند، پاکستان، ایران او د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د ګډو اقتصادي همکاریو پراختیا او د ترانسپورتي دهلیزونو پراخېدل کولی شي افغانستان د سیمه‌ییزو خامو موادو د صادروونکي هېواد په توګه مطرح کړي. دغه ستراتیژیک تعامل نه یوازې اقتصادي ودې ته سرعت ورکوي، بلکې د بین‌الدولي اړیکو د پراخېدو او د سولې د ټینګښت لپاره هم یو مهم ګام بلل کېږي. د دې ترڅنګ، د سیمه‌ییزو سازمانونو، لکه د شانګهای همکارۍ سازمان، د اقتصادي همکارۍ سازمان، د سوېلي آسیا د همکاریو ټولنې، د منځنۍ آسیا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو پروګرام او د آسیایي پراختیا بانک ملاتړ د دغه سکتور د پراختیا لپاره حیاتي دی. د دغو سازمانونو همکاري د افغانستان د کاني شتمنیو استخراج، د پانګوالو د باور لوړونه او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي لپاره نوې لارې پرانیزي.

لنډه دا چې د افغانستان د کاني سکتور پرمختګ نه یوازې د اقتصادي ودې، بلکې د اوږدمهاله ثبات، سیاسي پیاوړتیا او سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره یو اساسي عنصر ګڼل کېږي. که شفاف قانوني اصلاحات رامنځته شي، د زیربناوو جوړښت ته پراختیا ورکړل شي او د پانګوالو د حقوقي خوندیتوب تضمین وشي، د افغانستان اسلامي امارت نړیوال مشروعیت ترلاسه کړي، نو افغانستان کولی شي نه یوازې د خپلو طبیعي زېرمو څخه اعظمي اقتصادي

ګټه پورته کړي، بلکې د یو ستراتیژیک اقتصادي ځواک په توګه به د سیمې او نړۍ په جغرافیه کې خپل ارزښت تثبیت کړي.

د افغانستان د کاني سکتور د اغېزناک مدیریت او ودې لپاره لاندې سپارښتنې وړاندې کېږي، ترڅو د دغه هېواد له کاني زېرمو څخه د اقتصادي پرمختګ او ملي ثبات لپاره اعظمي ګټه پورته شي. دا سپارښتنې د شفافیت، حقوقي اصلاحاتو، سیمه‌ییزو همکاریو او د پانګوالو باور جوړونه باندې ځانګړې تمرکز لري، ترڅو د شته خنډونو مخنیوی وشي او د پایدارې اقتصادي ودې لپاره زمینه برابره شي.

## ۱,۵ د قانوني او اداري چوکاټ پیاوړتیا

- د شفاف، واضح او پانګوالو ته د باور وړ حقوقي چوکاټ جوړول اړین دي، ترڅو د کان کیندنې قراردادونه، جوازونه او د عوایدو وېش تنظیم شي.
- د فساد پر وړاندې جدي تدابیر نیول، ترڅو د غیرقانوني استخراج مخه ونیول شي او د عوایدو حیاتي سرچینې خوندي شي.
- د کاني سکتور د مدیریت لپاره خپلواک نظارت کوونکي بنسټونه رامنځته کول، چې د شفافیت، حساب ورکونې، او نړیوالو معیارونو سره سمون ولري.

## ۲,۵ د امنیتي ننګونو حل او پانګوالو ته د خوندي چاپېریال برابرول

- د کاني سیمو د امنیت د خوندیتوب په موخه د محلي ټولنو او امنیتي بنسټونو همغږي پیاوړې کول.
- د پانګوالو لپاره معیاري پالیسۍ رامنځته کول، ترڅو هغوی د خپلو پانګونو د خوندیتوب احساس وکړي.
- د کانونو له عوایدو څخه د اغېزمنو سیمو د پرمختګ لپاره ګټه اخېستل، ترڅو محلي ټولنې د غیرقانوني کان‌کیندنې پر ځای قانوني لارو ته وهڅول شي.

## ۳,۵ د غیر قانوني استخراج مخنیوی او د شفافیت رامنځته کول

- د غیر قانوني کان‌کیندنې پر ضد جدي اقدامات ترسره کول، چې د اقتصادي

زیان سربېره چاپېریال ساتنې ته هم زیان رسوي.

- د کانونو د استخراج، ترانسپورت او صادراتو د ثبت لپاره یو متمرکز ډیجیټلي سیسټم رامنځته کول، ترڅو د قانوني کنټرول اسانتیاوې زیاتې شي.
- له نړیوالو معتبرو سازمانونو سره همکاري کول او د هغوی له تجربو څخه استفاده کول، لکه د استخراجي صنایعو د شفافیت نوښت،[1] ترڅو د کاني سکتور د شفافیت کچه لوړه شي.

## ۴,۵ د بهرنۍ پانګونې جلب او اسانتیاوې

- له چین، هند، ایران، منځنۍ آسیا، او نورو اقتصادي قدرتونو سره د متقابلو ګټو پر بنسټ پانګیز تړونونه ترسره کول.
- د مالیاتو تخفیف، د جواز اخیستنې اسانتیاوې او د پانګوالو د حقوقو ساتنه، ترڅو خصوصي سکتور ته د پانګونې زمینه مساعده شي.
- د افغانستان د غړیتوب له لارې په شانګهای همکارۍ سازمان او اقتصادي همکاریو سازمان په څېر نورو سیمه‌ییزو اقتصادي سازمانونو کې د کانونو د صادراتو لپاره اسانتیاوې رامنځته کول.

## ۵,۵ د زیربنایي پروژو پراختیا

- د سړکونو، رېل‌پټلیو او د برېښنا شبکو پراختیا ته لومړیتوب ورکول، ترڅو د کاني سکتور فعالیتونه اغېزناک شي.
- د کانونو د تصفیې او پروسس صنعت ته وده ورکول، ترڅو افغانستان له خامو صادراتي موادو څخه صنعتي تولید ته واوړي.
- د زیربنایي پروژو لپاره نړیوال تمویل راجلبول، چې د نړیوال بانک، آسیایي پراختیایي بانک او اسلامي پراختیایي بانک له لارې تمویل کېدی شي.

[1] . Extractive Industries Transparency Initiative (EITI)

### ٦,٥ له ملي اقتصاد سره د کاني سکتور مدغمول

- د منرالونو د پروسس لپاره ځانګړي اقتصادي زونونه جوړول، ترڅو د کورنيو صنعتونو ودې ته لار هواره شي.
- د ځوانانو لپاره د مسلکي زده‌کړو پروګرامونه رامنځته کول، چې د کانونو د مديريت، تکنالوژۍ او چاپېريالي ساتنې مهارتونه زده کړي.
- د کانونو له عوايدو څخه د عامه خدماتو، تعليم او روغتيا په برخو کې پانګونه کول، ترڅو اقتصادي ثبات رامنځته شي.

### ۷,۵ د نړيوالو او سيمه‌ييزو همکاريو پياوړتيا

- د نړيوال رسميت پېژندنې لپاره د ډيپلوماټيکو هڅو پراخول، ترڅو له رسميت پېژندنې وروسته نړيوال شرکتونه افغانستان کې پانګونه وکړي.
- له ګاونډيو هېوادونو سره د کانونو د صادراتو لپاره د سوداګريزو دهليزونو پراختيا ته لومړيتوب ورکول.
- له نړيوالو مالي بنسټونو سره د همکاريو پراخول، ترڅو افغانستان د تخنيکي تجربو او پانګونې اسانتياوې ترلاسه کړي.

## سرچینې

1. Abdelhady, H. (2018, July 23). *A Localized Approach to Anti-corruption in Afghanistan's Mining Sector*. Retrieved from MassPoint PLLC: https://masspointpllc.com/afghanistan-minerals-mining-law-corruption/

2. ADB. (2015). *Economic Cooperation Organization (ECO)*. Retrieved from Asia Regional Integration Center: https://aric.adb.org/initiative/economic-cooperation-organization

3. ADB. (2018, October 16). *ADB Supports New Road Project to Improve Connectivity in Afghanistan*. Retrieved from Asian Development Bank: https://www.adb.org/news/adb-supports-new-road-project-improve-connectivity-afghanistan?utm_source=daily&utm_medium=email&utm_campaign=alerts

4. ADB. (2019, April 3). *Infrastructure Development Key to Afghanistan's Growth*. Retrieved from Asian Development Bank: https://www.adb.org/news/infrastructure-development-key-afghanistans-growth-adb

5. ADB. (2021, October 26). *ADB Projects in Afghanistan*. Retrieved from Asian Development Bank: https://data.adb.org/dataset/adb-projects-afghanistan

6. ADB. (2024). *Asian Development Bank Member Fact Sheet.* Asian Development Bank.

7. Ahmad, N., & Danielson, L. (2023, September 23). *The benefits of Afghanistan's mineral riches may not be so forthcoming*. Retrieved from Aljazeera: https://www.aljazeera.com/opinions/2023/9/23/the-benefits-of-afghanistans-mineral-riches-may-not-be-so-forthcoming

8. Ahmad, N & ,.Danielson, L ,۲۰۲۳) .September 23 .(*The benefits of Afghanistan's mineral riches may not be so forthcoming* .From Aljazeera: https://www.aljazeera.com/opinions/2023/9/23/the-benefits-of-afghanistans-mineral-riches-may-not-be-so-forthcoming

9. Aimal, A. (2022). *The Importance of the Transport Sector and the Efforts of the Islamic Emirate in this Field*. Retrieved from https://dpmea.gov.af/: https://dpmea.gov.af/1403-Eng-Articles-49

10. Alemarah. (2024, January 30). *Afghanistan's Regional Cooperation Initiative*. Retrieved from Alemarah: https://www.alemarahenglish.af/afghanistans-regional-cooperation-initiative/

11. Ali, T. (2024, July 3). *India-Afghanistan Critical Mineral Cooperation: Opportunities and Challenges*. Retrieved from Southasianvoices: https://southasianvoices.org/geo-m-in-r-india-afghanistan-mineral-cooperation-07-03-2024/

12. Amin, M. I. (2018, January 2). Afghanistan Mining Potential, Challenges And Way Forward. *Southasiajournal.net*. Retrieved from https://southasiajournal.net/afghanistan-mining-potential-challenges-and-way-forward/

13. Amini, E. (2020). Afghanistan and Regional Economic Cooperation Between Central Asia and South Asia. *International Research Journal of Human Resource and Social Sciences, 7*(1), 93-101.

14. Aziz, M. (2012). Afghanistan: The Geopolitics Of Regional Economic Integration: The Emergence Of China As The New Facilitator. *Sources of Tension in Afghanistan and Pakistan: A Regional Perspective. CIDOB Policy Research Project (Barcelona Institute for International Affairs)* , 1-30.

15. Azzam, A. (2023, September 23). *Developing Afghanistan's mines will uplift Afghans*. Retrieved from Aljazeera: https://www.aljazeera.com/opinions/2023/9/23/developing-afghanistans-mines-will-uplift-afghans

16. Behera, R. (2023, November 28). *How is Green Mining Vitally Essential for Nurturing Resources and Protecting Nature*. Retrieved from Researchdive: https://www.researchdive.com/blog/green-mining-the-eco-friendly-practices-that-can-embrace-sustainability-in-every-dig

17. Blumenthal, L., Purdy, C., & Bassetti, V. (2022, August 3). *Chinese investment in Afghanistan's lithium sector: A long shot in the short term*. Retrieved from Brookings: https://www.brookings.edu/articles/chinese-investment-in-afghanistans-lithium-sector-a-long-shot-in-the-short-term/

18. Bulletin, W. (2003, June 30). *Environmental and social impacts of mining*. Retrieved from World Rainforest Movement:

https://www.wrm.org.uy/bulletin-articles/environmental-and-social-impacts-of-mining

19. Byrd, W. A., & Noorani, J. (2014). Exploitation of Mineral Resources in Afghanistan Without Government Revenues or Development Benefits. *United States Institute of Peace*, 1-5.

20. Cabayan, H. (2010, January). *Perspectives on Political and Social Regional Stability Impacted by Global Crises – A Social Science Context*. Retrieved from Nsiteam: https://nsiteam.com/social/political-and-social-regional-stability-impacted-by-global-crises/

21. CAREC. (2017). *Connecting The Region for Shared and Sustainable Development.* Asian Development Bank.

22. CAREC. (2020). *A Strategic Framework for the Central Asia Regional Economic Cooperation Program 2011–2020.* Philippines: Asian Development Bank.

23. Corneau, S. (2019). How Can Technology in Mining Protect the Environment? *International Institute for Sustainable Development*. Retrieved from https://www.iisd.org/articles/how-can-technology-mining-protect-environment

24. Daryo. (2024, January 2). *Afghanistan's global corruption ranking drops by 12 positions in 2023*. Retrieved from Daryo: https://daryo.uz/en/2024/02/02/afghanistans-global-corruption-ranking-drops-by-12-positions-in-2023

25. Desk, N. (2024, October 16). *The role of observer states in SCO*. Retrieved from News Desk: https://www.thenews.com.pk/print/1240520-the-role-of-observer-states-in-sco

26. ESCAP. (2015). *Afghanistan and Central Asia: strengthening trade and economic ties.* UN.

27. Esteves, A. M., Ogorodnikova, V., Putz, C., & Coyne, B. (2014). *Increasing domestic procurement by the mining sector in Central Asia.* Washington DC: SEGOM EUROPE AND CENTRAL ASIA.

28. Felbab-Brown, V. (2024, March 28). *Russia-Afghanistan relations in the aftermath of the Moscow attack*. Retrieved from Brookings: https://www.brookings.edu/articles/russia-afghanistan-relations-in-the-aftermath-of-the-moscow-attack/

29. Gary, M., & Brandon, T. (2011). The Afghanistan Mining Sector as a Driver of Sustainable Growth: Benefits and Opportunities for Large-Scale Mining. *Oil, Gas, and Mining (SEGOM), World Bank*, 1-53.

30. Habib, M .(۲۰۲٤) .Enhancing Regional Stability: The Role Of The Shanghai Cooperation Organization In Afghanistan's Security And Development .*Policy Research Journal*.۱۰۷۲-۱۰۵۷ ,(٤) ۲*,*

31. Hunter, M., & Ginn, P. (2025, January 8). *Why is Afghanistan part of the great extractives race?* Retrieved from Global Initiative: https://globalinitiative.net/analysis/why-is-afghanistan-part-of-the-great-extractives-race/

32. Hussein, M., & Haddad, M. (2021, September 24). *Mapping Afghanistan's untapped natural resources*. Retrieved from Aljazeera: https://www.aljazeera.com/news/2021/9/24/mapping-afghanistans-untapped-natural-resources-interactive

33. Javaid, F & ,.Bowes, J ,۲۰۲٤) .November 30 .(*Transport Corridor: Will it Achieve Regional Connectivity* ?From Southasianvoices: https://southasianvoices.org/ec-m-co-n-trans-afghan-corridor-11-30-2024/

34. Keatinge, T., & Erausquin, G. S. (2022, October 24). *Afghanistan Under the Taliban: The Unintended Consequences of Sanctions*. Retrieved from RUSI: https://www.rusi.org/explore-our-research/publications/commentary/afghanistan-under-taliban-unintended-consequences-sanctions

35. Khan, H. (2024, March 14). *Catalyzing Renewable Energy: Path to Afghanistan's Economic Revival*. Retrieved from The Diplomat: https://thediplomat.com/2024/03/catalyzing-renewable-energy-path-to-afghanistans-economic-revival/

36. Khan, H. (2024, March 14). *Catalyzing Renewable Energy: Path to Afghanistan's Economic Revival*. Retrieved from The Diplomat: https://thediplomat.com/2024/03/catalyzing-renewable-energy-path-to-afghanistans-economic-revival/

37. Khan, H. U., & Mahmood, A. (2023). The Stabilizing Role Of Shanghai Cooperation Organization In Afghanistan. *Central Asia Journal, 92*, 55-76.

38. Khetran, M. S. (2019). Afghanistan's Economic Potential: A Case for Regional Security. *Journal of Security & Strategic Analysis, V*(2), 120-138.

39. Kopplin, Z. (2021, August 30). *Afghanistan collapsed because corruption had hollowed out the state*. Retrieved from Theguardian: https://www.theguardian.com/commentisfree/2021/aug/30/afghanistan-us-corruption-taliban

40. Kumar, P. (2024, February 22). *Afghanistan's Taliban Control: Implications for SAARC and Regional Security*. Retrieved from Banotes: https://banotes.org/south-asia/afghanistan-taliban-control-saarc-regional-security/#prospects-for-regional-cooperation

41. Lakhani, S., & Corboz, J. (2017). Illegal Extraction of Minerals as a Driver of Conflict in Afghanistan. *United States Institute of peace*, 1-4.

42. Lalrinfel, B., & Tripathi, A. (2018). Afghanistan and the Shanghai Cooperation Organisation: Prospects for Membership. *International Journal of Research and Analytical Reviews (IJRAR), 5*(4), 1114-1119.

43. Liaqat, S., & Abbasi, A. H. (2023, August 4). *Afghanistan in China's Grand Strategy*. Retrieved from The Diplomat: https://thediplomat.com/2023/08/afghanistan-in-chinas-grand-strategy/

44. Lindsey, L. (2024, May 27). *The Mineral Wealth Beneath Afghanistan's Surface: A Mining Boom Or Bust?* Retrieved from Shun Culture: https://shunculture.com/article/does-afghanistan-have-a-lot-of-mining-for-mineral-wealth

45. Marsden, M. (2021, September 15). *China, Afghanistan, and the Belt and Road Initiative: Diplomacy and Reality*. Retrieved from The Diplomat: https://thediplomat.com/2021/09/china-afghanistan-and-the-belt-and-road-initiative-diplomacy-and-reality/

46. Masalbekova, A. (2024, September 9). *How China Is Leveraging Security Cooperation in Central Asia*. Retrieved from United States Institute of Peace: https://www.usip.org/publications/2024/09/how-china-leveraging-security-cooperation-central-asia

47. Matrix, R. (2024, March 1). *China-Afghanistan Economic Partnership: A Promising Alliance*. Retrieved from Matrixmag: https://matrixmag.com/china-afghanistan-economic-partnership-a-promising-alliance/

48. Mehrpor, A. S. (2019). Afghanistan membership in SAARC motivation and interests . *International Journal of Research and Analytical Reviews (IJRAR)* , 1408-1415.

49. Mine Action Review .(۲۰۲۲) .*Clearing the Mines 2022: Afghanistan* .Canada: Norwegian People's Aid.

50. MOMPA. (2019). *Afghanistan: Mining Sector Roadmap.* Kabul: Ministry of Mines and Petroleum Afghanistan.

51. Montgomery, S. L. (2021, August 31). *Afghanistan has vast mineral wealth but faces steep challenges to tap it*. Retrieved from Theconversation: https://theconversation.com/afghanistan-has-vast-mineral-wealth-but-faces-steep-challenges-to-tap-it-166484

52. Mujaddid, D. G. (2024, October 25). *Why Reviving SAARC Matters Now?* Retrieved from Stratheia: https://stratheia.com/why-reviving-saarc-matters-now/

53. Najafizada, E. (2011, November 29). *Indian Group Wins Rights to Mine in Afghanistan's Hajigak*. Retrieved from Bloomberg: https://www.bloomberg.com/news/articles/2011-11-28/afghanistan-awards-most-hajigak-iron-ore-mining-rights-to-indian-group

54. Nasrudin, A. (2024, August 18). *Regional Integration: Benefits, Challenges & Stages (Trade, Economy)*. Retrieved from Penpoin: https://penpoin.com/regional-integration/

55. Nazminia, C .(۲۰۱۳) .*Mining in Afghanistan: A Pathway to Development and Modernization .*

56. Nero, M. A., & Rahmani, A. B. (2022). Mining Management in Afghanistan: Opportunities, Challenges, Constraints and Strategies for Correct Use of the Mineral Resources of the Country. *KPU International Journal of Engineering & Technology, 2*(1), 121-151.

57. Noorani, J., & Brouckere, L. D. (2016). A Balancing Act for Extractive Sector Governance. *Afghanistan Research and Evaluation Unit and German Federal Ministry of Economic Cooperation and Development*, 1-68.

58. Panda, a. P. (2011). China or the SCO: Who will supervise Afghanistan? *China Brief*. Retrieved from https://jamestown.org/program/china-or-the-sco-who-will-supervise-afghanistan/

59. Parvez, S. (2020). Afghanistan: Regional Cooperation for Peace, Security and Economic Prosperity . *Geneva Conference, Virtual Format* (pp. 1-13). Geneva: Asian Development Bank .

60. Pikulicka-Wilczewska, A. (2019, May 28). *Why is Afghanistan unable to extract its vast mineral wealth?* Retrieved from Aljazeera: https://www.aljazeera.com/features/2019/5/28/why-is-afghanistan-unable-to-extract-its-vast-mineral-wealth

61. Pomfret, R. (1997). The Economic Cooperation Organization: Current Status and Future Prospects. *Europe-Asia Studies, 49*(4), 657-667.

62. Rahim, S. A., & Miller, E. (2021). The Significance of a Reliable Trade Route for Afghanistan's Mining Sector: The Case of Talc Magnesite. *Policy Brief*, 1-4.

63. Renaud, K. M .(۲۰۱۳) .The Mineral industry of Afghanistan . *USGS*.۹-۱ ,

64. Rose, M. (2016, January 14). *The U.S. Spent a Half Billion on Mining in Afghanistan With 'Limited Progress'*. Retrieved from Propublica: https://www.propublica.org/article/the-u.s.-spent-a-half-billion-on-mining-in-afghanistan-with-limited-progres

65. Ruttig, T ,۲۰۲۳) .December 7 .(*Whose Seat Is It Anyway: The UN's (non)decision on who represents Afghanistan* .From Afghanistan Analysts Network: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/international-engagement/whose-seat-is-it-anyway-the-uns-nondecision-on-who-represents-afghanistan/

66. S.A.K. (2022). *Empowering Economic Growth in Afghanistan Through Modern Technology: Opportunities and Challenges*. Retrieved from Deputy PM for Economic Affairs: https://www.dpmea.gov.af/empowering-economic-growth-afghanistan-through-modern-technology-opportunities-and-challenges

67. Shah, M. K. (2024). Mining for Influence: China's Mineral Ambitions in Taliban-Led Afghanistan. *Wilson Center*. Retrieved from https://www.wilsoncenter.org/blog-post/mining-influence-chinas-mineral-ambitions-taliban-led-afghanistan

68. Shrestha, S. (2015). Energy Efficiency in Road Transport Sector in the SAARC Member States . *SAARC Energy Centre Islamabad*, 1-79.

69. Shroder, J. F. (2015). Progress with Afghanistan extractive industries: Will the country know resource success or failure evermore? *Elsevier, 2*, 264-275.

70. Silvia, B. (2023, December 4). Exploring Iran-Afghanistan collaboration: Kabul's Pursuit of Trade Diversification. *SpecialEurasia, 19*(1). Retrieved from https://www.specialeurasia.com/2023/12/04/iran-afghanistan-cooperation/

71. Silvia, B ,۲۰۲٤) .November 11 .(Iran-Afghanistan Relations: Emerging Dynamics and Challenges .*Specialeurasia* .(۲) ۲۷ ,From https://www.specialeurasia.com/2024/11/11/iran-afghanistan-diplomacy/

72. Specialeurasia. (2024, May 6). *Intelligence Brief: Afghanistan Between Security Threats and Regional Economic Cooperation*. Retrieved from Specialeurasia: https://www.specialeurasia.com/2024/05/06/afghanistan-security-economy/

73. Tivey, J., & Li, D. (2021, September 15). *China's pursuit of mining & metals industry transition*. Retrieved from whitecase: https://www.whitecase.com/insight-our-thinking/chinas-pursuit-mining-metals-industry-transition

74. Totakhil, S. (2019). The Future Perspective of Afghanistan's Mineral Resources. *European Academic Research, VII*(1), 645-659.

75. TS, C. (2021, May 29). *The Great Game over Rare Earth Minerals in Afghanistan*. Retrieved from Samvadaworld: https://samvadaworld.com/big-block-of-4/the-great-game-over-rare-earth-minerals-in-afghanistan/

76. UNDP. (2020). *Pitfalls and Promise – Minerals Extractions in Afghanistan.* UNDP.

77. Wardak, M. A. (2018). Afghanistan-Centered Regional Cooperation and Integration. *Regional Economic Cooperation Conference on Afghanistan (RECCA)*, (pp. 1-23). Almaty, Kazakhstan.

78. World Bank .(۲۰۲٤) .*AFGHANISTAN DEVELOPMENT UPDATE APRIL 2024* .Washington, DC: World Bank.

79. Yousaf, S .(۲۰۱٦) .Afghanistan's Mineral Resource Potential: A Boon or Bane . ?"*Journal of Current Affairs*.۱۰۹-۸٦ ,(۲&۱) ۱ ,

80. Zhuwarara, S. (2024, November 18). *Enhanced regional cooperation is required for effective ASM regulation*. Retrieved from Miningindaba: https://miningindaba.com/articles/enhanced-regional-cooperation-is-required-for